# همبستگۍ غږ

د افغانستان د همبستگۍ گوند خپرونه

**۹**

**پښتو**

پسرلي ۱۳۹۶




۱۳۹۶ کال د وری ۲۷مه – کابل: د همبستگۍ یو شمیر غړو د یوې اعتراضی غونډې په ترځ کی په ننگرهار ولایت اچین ولسوالی د امریکا نیواکگر دولت له لوری د «بمونو مور» په نام ستر بم غورځول وغندل او د امریکا او د هغې له لاسپوڅي دولت څخه یی خپله کرکه څرگنده کړه... ۴ مخ

**همبستگی**


د امتیاز خاوند: د افغانستان د همبستګۍ ګوند

مسئول مدیر: سیدمحمود همرزم

ګرځنده: ۰۰۹۳-۷۰۰-۲۳۱۵۹۰

د جواز شمیره: ۸۷


**د ګوند موخې**

- خپلواک، آزاد، دموکراتیک او یو موټی افغانستان.
- د سیکولاریزم او دیموکراسۍ پر ستنو ولاړ ملي یووالی.
- د ښځو او نارینه او د هیواد ټولو پرګنو مساوي حقوق.
- د هر ډول بنسټ پالنې او بهرنۍ لاسوهنې پر وړاندې مبارزه.
- د امریکایي او ناټو نیواکګرو قوتونو سم لاسي وتنه.

# پدې ګڼه کې:


پرېنږدو چې افغانستان د زبرځواکونو د وسلو د سیالۍ ډګر وګرځي! ..... ۱

په افغانستان کی د امریکا وسلو آزموینې غندلو په موخه د همبستګۍ ګوند غونډه ..... ۳

د زنبق څلورلارې په ځانمرګې برید کې د څو قرباني کورنیو زړه بوږنونکې کیسه ..... ۶

د عدالت‌غوښتنې کیږدي یا د جمعیت اسلامی واک‌غوښتنه ..... ۱۰

حسن: «هیچا له ما سره مرسته ونکړه»! ..... ۱۷

حلیمه او سما، په صحت عامې روغتون کې د سلګونو قربانیانو څو بیلګې ..... ۲۱

نورمحمد د کرغیړنو طالبانو له لوری په ځناوریزه توګه ووژل شو ..... ۲۵

د رنځیدلې مور سره چې د دری ځوانو ځامنو جنازې ورته وسپارل شوې، خبرې‌اترې ..... ۲۸

په جهادی خپرونو کې ښځې ته د منځنۍ پیړۍ لید ..... ۳۱

کله چې اسراییل د ګلبدین اسلامی ګوند مرستې ته ورودانګل ..... ۳۹

په هیر شوی بامیانو کی یوه ګړۍ له سموځوناستو سره ..... ۴۵

جهادی مشرانو په مکه او مدینه کې لوړه وکړه خو په یوه شپه کې یې مات کړه ..... ۵۱



اعلامیې

# پرې نږدو چې افغانستان د زبرځواکونو د وسلو د سیالۍ ډګر وګرځي!




دا ځل امریکا د خپل سلاح‌کوټ تر ټولو ستر غیرهستوی بم چې د «ټولو بمونو مور» په نوم شهرت لری، پرته له کوم خنډ او اندیښنې څخه زمونږ په هیواد کی وازمایه. که ددغو ویرونکو آزمایښتونو پر وړاندی چُپ پاتي شو، زمونږ افغانستان به یووار بیا د زبرځواکونو د وسلو د سیالیو ډګر وګرځي آن تردې چی د هستوی بم خطر به هغه وګواښي.

امریکایی جنایتکاران او د هغوی رسنیٔ غواړي دا پر مونږ ومني چی ددې موخه په اچین ولسوالۍ کی د داعش ډلې د «سموڅو نړول» وو، خو دا د داعش ځواکمن ښودلو لپاره یو درواغ دي. داعش د طالبان په څیر د امریکا ارمونی اولاد دی او هیڅکله به خپل دغه روزل شوي چی ددوی د غوښتنی سره سم د بی‌ساري ځناورتوبونو ترسره کولو لپاره ډګر ته راغلی دی له منځه یونسي. که امریکا د داعش پر ضد وای نو ولی یی په عراق او سوریه کی د هغوی ستر کاروانونه روغ پریښودل او هیڅکله یی پر هغوی د بمونو مور ونه غورځوله؟

د هغو مالومات پر بنسټ چی مونږ له سیمې څخه ترلاسه کړي، دغه ۱۶ میلیوني بم په یو تش ډاګ کی غورځول شوی او یواځې د آرموینې لپاره په کار وړل شوی ترڅو امریکا د سیمې سیالو ته او په ځانګړی توګه روسې ته ګوت‌ځنډنه وکړی چی په هډو کی داسی ویجاړونکی وسلې ځای پر ځای

کړي دي او افغانستان کې یې هم د داعش او طالب همفکره ناتارکونکو په ټومبلو سره داسې لاسپوڅي او بې‌ارادې دولت رامنځته کړی چې د هر ډول ویجاړونکي وسلې استعمالولو زمینه ورته برابره ده.

ددغه بم کارول د «ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې» سره هیڅ تړاو نلري ځکه زمونږ خلک په دې پوهیدلي دي چې په تیرو ۱۵ کلونو کې امریکا خپله په افغانستان کې د ډولاډول ترهګرو منځته راوړونکي او تمویل‌کونکې ده او په کراتو یې اعلان کړی چې له طالبانو سره هیڅ دښمني نلري. او بله داچې د ډیرو لاسوندونو پر اساس دا په ډاګه شوه چې داعش په منځني ختیځ کې د امریکا استراتیژیکه وسله ده او هڅه کوي چې د روسې پولو بې‌ثباته کولو لپاره د هغې مخ د افغانستان شمال لوري ته واړوي.

په داسې حال چې په سوریه کې د امریکا او روسې دښمني خطرناک پوړ ته رسیدلې ده، ټول دا ګوت‌څنډنه کوي چې ددغو دوه وینې‌څښونکو زبرځواکونو ښکر په ښکر کیدو بل ډګر افغانستان دی. زمونږ هیواد چې یوځل د ساړه جنګ په لړ کې ددغو دواړو د جګړې ډګر ګرځیدلی وو د خپل تاریخ خونړۍ او ناورین څخه ډک دوران یې تجربه کړی دی، باید اجازه ورنکړو چې دا ځل د ویجاړۍ کندې ته ولویږو. د ملي څناورتوب دولت له امریکا سره د مریتوب هوکړې په لاسلیکولو او د بادارانو ددغه آزمایښت په تاییدولو سره یې، زمونږ د ولس په حق کې ستر خیانت ترسره کړ. خو د افغانستان خپلواکۍ‌غوښتونکي او آزادۍ‌غوښتونکي خلک باید ددې ویجاړونکي خطر په درک کولو سره پرې‌نږدي چې هیواد یې د ختیځ او لویدیځ د وسلو د سیالیو په انډوخر کې وځپل شي.

په تیرو ۱۵ کلونو کې ددغو بمونو او د امریکا بریدونو اصلي قربانیان زمونږ بې‌دفاع او بیوزله خلک ول. دغه بمونه خطرناکه کیمیاوي او رادیواکتیوي مواد لري چې پر چاپیریال او خلکو اوږدمهاله او ناوړه اغیز لري چې زمونږ چاپیریال یې خورا ککړ کړی دی.

باید د امریکایي رسنیو په درواغجنو او له منلډو ډکو نندارو او د دولت ویاندانو چې د پنتاګون په اعلامیو شخوند وهي، و نه غولیږو. که چیرې د امریکا او د هغې د مریانو ښکرونه ورمات نکړو، پرته له ګومانه یوه ورځ به زمونږ په ګران افغانستان کې خپله اتمي وسله هم وآزمایي.

د افغانستان همبستګۍ ګوند

۱۳۹۶ کال د وري ۲۶مه (۲۰۱۷ کال د اپریل ۱۵مه)



انځورونه

# په افغانستان کې
# د امریکا وسلو آزمویني غندلو په موخه
# د همبستګۍ ګوند غونډه




۱۳۹۶ کال د وری ۲۷مه (۲۰۱۷ کال د اپریل ۱۶مه) – کابل: نن د همبستګۍ یو شمیر غړو د یوې اعتراضی غونډې په ترڅ کې په ننګرهار ولایت اچین ولسوالی د امریکا نیواکګر دولت له لوری د «بمونو مور» په نام ستر بم غورځول وغندل او د امریکا او د هغې له لاسپوڅي دولت څخه یې خپله کرکه څرګنده کړه.

د غونډې ګډون‌والو له ځانه د امریکا سیاستونو ضد شعارونه او د افغانستان خلکو بدمرغیو انځورونه وړل. په ورته وخت یو شمیر هم ورکول کیدل: «نه امریکا، نه بنسټپالي – واک د خلکو په لاس!»؛ «په افغانستان کې د ویرونکو وسلو آزموینه جنایت دی – جنایت دی جنایت!»؛ «د بنسټپالۍ پر ضد د امریکا جګړه دوکه ده!»؛ «په افغانستان کې د جګړې اصلی لامل امریکا ده!»؛ «طالب او داعش د امریکا زیږنده ده!»؛ «لنډ دی وی د امریکا او د هغې د چوپړانو لاسونه زمونږ له هیواد څخه!»؛ «راپاخیږئ راپاخیږئ، چُپتیا کې ذلت دی».

وروسته د سیلۍ غفار، د همبستګۍ ګوند ویاندې، په خپلو خبرو کې وویل چې د ختیځ او لویدیځ سیالیو په منځ کې هره ورځ زمونږ هیواد د بدمرغۍ کندې ته روان دی:

«پر افغانستان د امریکا له تیري څخه څوارلس کاله تیر شول. نیواکګر

د «ترهګرۍ سره مبارزې» تر نامه لاندې ذکر ته راغلل او دغه هیواد د بې‌دفاع خلکو په هدیره بدل کړ. د امریکا او ناتو ځواکونو له لورې د ۲۵۰ افغانانو وژل کیدل، د هیواد په ګوټ ګوټ ویجاړونکي بمبارونه، د کیمیاوي بمونو آزموینه، او اوس هم د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې تر ټول ستر بم د «بمونو مور» په نامه غورځول د بې۲۵ دیموکراسۍ لاسته‌راوړنه ده چې لاسپوڅي دولت او د هغوی چوپړ روڼ‌آندي په سپین‌سترګتوب له خلکو غواړي چې د امریکا جنایتکاره پوځ څخه منندوی اوسو. او له دغې آزموینې څخه یې هرکلي وکړ او خلکو ته وای چې ګواکې هیڅ ملکي مرګ‌ژوبله یې نلره بلکه داعشیان یې وژلي دي. د ملي ځناورتوب دولت له امریکا سره د مریتوب هوکړې په لاسلیکولو او د بادارانو ددغه آزمایښت په تاییدولو سره یې، زمونږ د ولس په حق کې ستر خیانت ترسره کړ. خو د افغانستان خپلواکۍ‌غوښتونکي او آزادۍ‌غوښتونکي خلک باید ددې ویجاړونکي خطر په درک کولو سره پرېنږدي چې هیواد یې د ختیځ او لویدیځ د وسلو د سیالیو په اندوخر کې وځپل شي.»

د غونډې په لړ کې محمود، د کابل ښار له دردیدلو ښاریانو څخه یو تن خپل درد د یو شعر په چوکاټ کې بیان کړ. ددې ترڅنګ د ګوند ځوانانو، د «ټولو بمونو مور» یوه بیلګه یې جوړه کړې وه چې ټرامپ، غني او عبدالله هغه په موسکا او مکیز سره په خپلو اوږو لیږداوه او پرې ویاړ یې کاوه، چې په حقیقت کې زمونږ د هیواد د بې‌ګناه انسانانو پر وینو ملنډې وهلو ښکارندوی وه. غونډه د اعلامې په لوستلو سره پای ته ورسیده.




Independence
Democracy
Social Justice!
The US Govt is
the Biggest
Terrorist
of the World!
HAMBASTAGI.ORG


Stop
the Meddling of
US and its Minions
in Afghanistan!
ر برابر آزمایش
تمام بمب‌ها
موش باشیم،
مب اتمی نیز
خواهند ریخت.
HAMBASTAGI.ORG


MOAB
HAMBASTAGI.ORG



لیکونکی: مریم مروه

# د زنبق څلورلارې په ځانمرګي برید کې د څو قربانی کورنیو زړه بوږنوونکې کیسې




د ۱۳۹۶ کال د غبرګولی میاشتې په ۱۰ نیټه، زنبق څلورلارې تر څنګ د چاودیدونکو توکو څخه ډک ټانکر ته چاودنه ورکړل شوه چې په پایله کې له ۶۰۰ تنو څخه ډیرو ته مرګ ژوبله اوختي ده. د دې جنایت زیاتره قربانیان بې وزله او بې‌وسې خلک دي چې یوی مړی، ډوډی موندلو په هڅه له کور څخه بهر وتلی وو او نن ورځ یي کورنې د خپلو خپلوانو په ویرکې ناست دې او زیاتره یي د خپلو کورنیو یوازینی نفقه‌راوړونکې له لاسه ورکړل. د پیښې ورځ په شپه، ع او غ د خپلې چوپړګری ډلې او عکاسی، کامرو سره د فیسبوکې انځورونو اخیستلو لپاره د ټپیانو لیدلو لپاره ولاړل او په نندارېزه توګه یی خواخوږی وکړه، خو نن ورځ د هغې ځناوریزې پیښې قربانیانو پاتی شوی اولادونه په ډیرو ناوړه شرایطو کې ژوند کوي او څوک یی پوښتنه نه کوی. البته د هغه خاینو چارواکو څخه چې د ګلبدین او لسګونو نورو ورانکارو قدمونو مخ ته یی سور فرش غوړولې، داسې توقع لرل نه بخښونکې تیروتنه ده.

د زنبق ځلورلارې پيښې څو تنو قربانيانو سره ليدنه چې د کابل ښار د خداياداد کلي په خوارميشتو سيمو کې اوسيږی او د هغوی د هر يو تن دارځپلی کيسې اوريدل ستونزمن کار دی چې ښايي هيڅکله به هير نشي.



عبدالعزيز

البته چې دا د قربانيانو او د هغوی د خپلوانو د بدمرغيو يو څو بيلګې دي او نور هم د دوې څخه ښه وضعيت نه لری.

۲۷ کلن عبدالعزيز، چې په دغه پيښه کې سخت ټپی شوی وه، په «ايمرجنسی روغتون» کې يی دوه ورځې د اغما (بی حالې) په حالت کې تيري کړی دي. نوموړی برسيره له فزيکی ټپونو څخه، سخت رواني زيان هم ليدلې او اوسمهال په ناوړه وضعيت کې دی تر دې چې د خپلو خپلوانو ليدلو ته چمتو نه دی.

فاطمه، دعبدالعزيز بوډۍ مور، چې پريشانی او بې‌وسی يي له څيری څخه څرګنديږی، د خپل ژوند ترخه کيسه دا ډول څرګندوي:



امام‌بخش

«عبدالعزيز مې يوازينی ځوی دی. د دوه کالو او څو مياشتو وه چې پلار يی د کابل [تنظيمی] جګړو په ترخ کې شهيد شو او تر هغې وروسته زموږ ټول ژوند په غريبۍ او لالهاندۍ کې تير شو. اوس چې مې ځوی د ناروغۍ په بستر کې پروت دی، آن د درملنې لپاره يی پيسي نه لرم.»

۲۲ کلن امام‌بخش، د «روشن په مخابراتی شرکت» کې ډريور، په دغه چاودنه کې خپل ژوند له لاسه ورکړ. هغه د خپلې ۱۱ کسيزي کورنۍ يوازينې نفقه‌راوړونکې وه. د هغه

کورنۍ په یو نیمایيویجاړ کور کې چې د بانک څخه د پور اخیستلو له لارې يـې ګـرو کړی وه، ژوند کوي. د شـهید امام‌بخش څخـه یو یونیم کلن ځوي د شـیرزاد په نوم او یو بل ماشـوم چې لا تر اوسه نه دی زیږیدلې، پاتي شوي دي.

سویتا، د امام‌بخش رنځیدلې میرمن په زړه‌بوږنونکو کوکارو سره وایی چې د خپل خاوند مرګ څخه وروسـته ټول بې‌سرپرسـت شوي او آن خوړلو لپاره څه نلري. په شپو په تمه پاتي کیږي چې ګواکې څوک به هغوي ته څه راوړي او لږ تر لږه د خپلو ماشومانو خیټې به مړې کړي.

دل آرام، د امام‌بخش ۵۰ کلنه مور، په داسـې حال کې چې سـترګې یې د اوښـکو څخه ډکې وی په ټیټ غږ سـره د خپل کړاونو څخه ډک ژوند کیسـه داسې کوي:

«د خپـل عمـر په اوږدو کې مې، بنـه ژوند نه دی لیدلـی او تل لالهانده او یـوی مـړی، ډوډۍ ته محتاج وو. داسـې یو کس واک ته ونه رسـید چې لږ د خپلو خلکو په فکر کې واوسـی، ټول د یو بل په شـان دی. تر کومه وخته؟ ټول خلک نیست نابود شول، ځوانان ټول شهیدان شول. دا دولت هیڅکله سـوکالې راوړی نه شي. زموږ د زړه له حاله خبر نلری، موږ دا ډول ولسمشر ته هیڅ اړتیا نه لرو. بنه دا ده، چې ګوبنه شي.»



خداداد

۲۲کلـن خـداداد، چـې د «روښـن مخابراتـی شـرکت» مالـی څانګـې کارکونکـې و هـم پـه دغـه پیبنـه کـې ټپـې شـوي و، وایـی چـې وروسـته لـه یوی ګړی «ایمرجنسـی روغتون» ته ولیږدول شوم او ډیره وینه مې له لاسـه ورکړی وه، خدادا زیاتوی چې د سـترګو پر وړاندی یی شپږ تنـه همـکاران (رونـا، شـمیلا، رحمت‌اللـه، شـفیق‌الله، جمعـه خان او جهش) شهیدان شول.

انیسـه، د خـدادا مور، د نورو کورنیو پـه څیر د ع او غ دولت له خیانت او ناکامې څخه ګیله‌مند ده:

«د دولت دنده، خلکو ته د امنیت او هوساینې او سوکالۍ راوړل دي. خو دوي چې له کومې ورځې کابل ته راغلل، زمــوږ ژوند یې برباد کړ. هره ورځ لــه خــوب ښخه په ویرې راپاڅیږو. د کور ښخه چې بهر ته ځو، هیله نلرو چې کور ته به بیرته ژوندی راوګرځو.»




**امریکا د ترهګرۍ پر بنسټګر وسلې پلوري** | کارټونیست: Antonio Rodriguez




# د عدالت‌غوښتنې کیږدي یا د جمعیت اسلامی واک‌غوښتنه



د زنبق څلورلارې ځانمرګې برید (د۱۳۹۶ کال د غبرګولی په ۱۰) چې د ۵۰۰ تنو څخه د ډیرو د وژل کیدلو او ټپي کیدلو لامل شو، چې د افغانستان په داخل او نورو هیوادونو کې له ځانه سره پراخه لاریونونه او نیوکې درلودلي. البته دا ناورین د فرخندې د وژل کیدلو څخه وروسته، هغه پیښه ده چې د زیاتره نړیوالو پام یې خپل لور ته راواړو او ټولو د افغانستان بیوزله خلکو سره خپله خواخوږي وښوده. کیدی شي چې د نړیوالو همدغه خواخوږي او یا سل په سله د غیرنظامیانو مرګ‌ژوبله د دی لامل شوه چې طالبانو او داعش د دغه شرمیدونکې جنایت پړه په غاړه وانخیسته او د ع او غ ملنډو وړ دولت هم اړ شو چې دریمه ډله، «د حقانی شبکه» یې مسول په توګه په ګوته کړه.

برسېره پر دې، دغه جنایت د هیواد عامه خلکو پراخه غبرګونونه له ځان سره لرل چې نوره یې چاره د هڅوکې څخه هم تیره شوی ده او ټولو په ډیري چټکې د ترهګرو سره د ع او غ لاسپوڅې دولت د مرستوکولو څخه خپله کرکه څرګنده کړه. د دغه خاورې کړېدلې خلک په ځانګړې توګه کابلیان تر دی چې نور ورته ساه اخیستل هم ستونزمن شوی د ټولنیزو شبکو څخه یې

په ګټې اخيستنې سره غبرګ پورته کړ چې «ډاډګيرنه وايو» او «په غم کې دی شريک يم»، کومه ستونزه نه حل کوي او بايد چې سيستم بدل شي.
جمعيت اسلامی چې د غني او شريکانو په منځ ته راتګ او کابل ته د خپل پخواني دښمن ګلبدين په راتللو، ورځ تر بلې خپله برخه «د ع او غ په سهامی شرکت» کې د لاسه ورکوي، چانس يې غنيمت وګاڼه او د مرتجع څيرو په رامخکې کولو سره لکه لطيف پدرام، احمد سعيدی، ضيا مسعود او جاويد کوهستانی «د ارګ په لورې د مرګ څخه سترې» شعار يې پورته کړ. د بلې خوا، دوستم او د «روښنايي غورځنګ» څو تنه چلوونکې چې د مقام او واک له قافلې څخه لرې پاتي دی، هم د هغوی خيل سره يوځای شول. البته چې د جمعيت يوه شمير پلويانو د خپل ځان د مطرح کولو لپاره د دغه ډول لاريونونو په لاره اچولو لاس پورې کړی وه. خو دا ځل چې ضيا مسعود د قدرت له کړۍ څخه لرې کړی شو او د هغه تنظيم پاتې وزيران کوم ځانکړې صلاحيت نلری، وي‌غوښتل چې بيا ځلې خپل ځان مطرح کړی او کومه برخه لاس ته راوړی. نن ورځ هم ګورو چې د کابل ښار د تنظيمونو د وينو او خيانت کلونو په څير د مدنې خوځښت تر نامه لاندی بياځلې سنګربندی شوی دی.
د غبرګولی مياشتې په ۱۲نيټه د جمعه ورځې په سهار، د کابل يو شمير ښاريانو د چاودنې په ځای کې د عدالت‌غوښتنې لپاره سره راټول شوی وو چې د جمعيت او شورای نظار کوخه‌ډبی د سرای شمالی له لوری راورسيدل. د کابل معترض ښاريان چې لا تر اوسه يې ټپونه د تنظيمونو د وينو او خيانت کلونو څخه تازه دی او هر کال د وږی په ۱۸، د مسعود د مرګ ورځ، د دغو کوخه‌ډبو له خوا د څو تنو کابلی ځوانانو وژلوکيدلو او ځناورتوب ګواهان دی، په سمه توګه يې موندلې ده چې د هغوي سنګر له دغې ځناوري او مرتجع ټولګې سره يوځای کيدی نه شی او له دی مخې يې په تدريجې توګه ساحه پريښوده. جمعيتيان او شورای نظار واله چې نور په ښه توګه پوهيږی چې ماهيت يې د افغانستان خلکو په وړاندی ښکاره شوی او څوک يې شاته نه راځې، د ورځې په پيل کې يې هڅه وکړه چې د عربی پسرلی غورځنګونو او «وال ستريت نيولو» څخه په تقليد سره، خپل دغه حرکت له رهبری څخه پرته څرګند کړی تر څو يو شمير خلک وغولوی او د هغوي سره يوځای شي.
خو د سالم ايزديار په وژل‌کيدلو سره، نور نو د افغانستان خلکو لپاره کوم شک پاتې نه شو چې نوموړی تنظيم د واک‌غوښتنې په هڅه کې دی. د کابل

د اوسېدونکو څخه د یو تن په وینا چې «نیم اخوانیان په ارګ کې او نیم په سړک کې راټول شول او د یو بل سره جنګېدل.»



د هغه کسانو تیوری‌ګانی چې د پردیو په لاس روزل شوی ځناورو سره ناسته ولاړه ویاړ ګڼې یوازې د ملی خاینانو او د هغوی بهرنیو واک‌دارانو په درد خوری.

په دی کې هیڅ شک نشته چې لاسپوڅې او مرتجع دولتونه که څه هم د ډموکراسۍ او آزادی جنډه په خپل راکاړي، شعارونه یې تر هغه حده دی چې د خپل ځان او خاوند ګټو ته د منلو وړ وی او د هغې څخه یو ګام مخکې ایښودل د ډزو او بندی‌کیدلولامل کیږی. که څه هم، هغه ادعاګانې چې حتا خپله د جمعیتیانو او شورای نظار واله له خوا شوی چې سالم ایزدیار د خپلو له خوا په ډزو باندی له منځه یوړل شو، خو په هر حال، هیڅوک او هیڅ رسنۍ د پاتي نورو وژل شوی په فکر کې نه شول او ټوله کیسه د دغه شهزاده د مرګ په مخ باندی وڅرخیده چې انسان ته د ویلیام شکسپیر هماغه وینا په یاد ورولی چې: «د شهزاده په مرګ باندی ټول آسمانونه روښانه کیږی، خو د یو سوالګر په مړینه یو لکۍ‌داره ستوری هم د آسمان څخه نه تیریږی.» وروسته خاورې ته د سپارلو وار راغې او خو پرلپسې چاودنې. په دغه عمل سره، امریکا خپل جمعیتي نوکران په غوږ ووهل چې خپې د خپلې شړي په اندازه وغزوي او نه د هغې څخه د باندی؛ د ارګ نیولو په فکر کې دی نه وی که نه بله چاودنه به په لومړی کتار وی. د امپریالیزم ځانګړتیاو څخه یوه دا ده چې خپل نوکران په بشپړه توګه له منځه نه وړی، بلکه هغوی د بلې ورځې لپاره ساتی. امریکا په هماغه ډول چې د ځناورتوب په اوج کې طالبان، شمالی ټلواله او ګلبدین په بشپړه توګه له منځه وی نه وړل او د افغانستان له نیواک څخه وروسته د شمالی ټلوالې څخه د نظام پیاده په توګه د طالبانو په وړاندی ګټه پورته کړه او نن ورځ د ګلبدین څخه د جنګې سپې په څیر ناوړه ګټه پورته کوی. وروسته یی د یوی اوونۍ په ترڅ کې طالبان د مزار له لاری کندهار ته راورسول، خو په بشپړه توګه یی له

منځه وی نه وړل تر څو د دغه ځناور لښکر په شتون کی په افغانستان کې د خپل شتون څخه دفاع وکړی او د خپلو مخالفانو په وړاندی د هغوی څخه کار واخلي. تر اوسه یی هم د جمعیت مشران له منځه نه دی وړی، ځکه چې تر اوسه هم ورته په راتلونکې لوبو کی د کارولو وړتیا لری.



د تحصن کیږدیو ته د دوستم له خوا رالیږل شوی خواړه چې د کیږدۍ ناستو له خوا په منځ سره په ټولنیزو پانو کې خپاره شول.

جمعیتیان په دې پوهیدلی چې له دې وروسته نشی کولای یو کس د دین او جهاد په نوم ځان پسې راکاږي او د دی تر څنګ د هغوی د معامله‌کولو بوی په دغه شپاړس کلونو کې په هغه ډول پورته تللی دی چې خپل پلویان پر هغوی باندی باور نه کوی. دغه کولی شو چې د عبدالله د فیسبوک پوسټونو لاندی د فیسبوک کارونکو له کرکجنو نظرونو څخه وپوهیږو چې په یو وخت کې یی دا دعوا کوله چې عبدالله ته یی رایۍ ورکړی وه. له همدې لامله، دوی هڅه وکړه تر څو لږي پیژندل شوی څیری بازار ته وړاندی کړي: لطیف پدرام، احمد سعیدی، جاوید کوهستانی او د حبیب الله کلکانی څو تنه ځوان پلویان. خو زموږ خلک د دغه څیرو څخه چې په ظاهره نوی دی هم پوره پیژندګلوی لری. آیا زموږ خلک خادی پدرام د ایران چوپړ نه پیژنې چې د خپل توکم‌پالو او شوونیست ملګرو په څیر لکه اسماعیل یون او جنرال طاقت څخه شاته پاتی نه دی او په بی‌شرمۍ سره د هیواد پرګنو او ملیتونو تر منځ د نفاق لمنه وهی. د افغانستان خلک د احمدی سعیدی –کارپوه، شنوونکې، متخصص او نور او نور باړه‌اخیستونکې - په اړوند هم پوهاوی لری چې د فهیم په مرګ کی یی ټول تلویزونونه اجاره کړی وو او له هغه څخه یی د ننۍ ورځې جورج واشنګتن جوړاوه؛ نوموړی په ظاهره د ځانمرګې برید قربانیانو لپاره اوښکې تویولې، خو د عبدالله او عطا سره د جوړه‌ای انځورونو اخیستلو څخه شرم نه لری او د ویری او ډارن‌توب څخه یی د ګلبدین راتګ ته ښه راغلاست ووایه او هغه یی په نیک فال یی ونیوه. جاوید کوهستانی تسلیمی هم پیژنو چې د خپلو یو سلو څو تنو ملګرو نوم یی خاد ته وسپاره او وروسته د خپلو خادی ملګرو څخه ګله‌مند وو چې ولی یی په نیولو کې د خپل ځان

سره نه دي وړي. هغه خپله په ویاړ سره د افغانستان او پاکستان په سرحدي سیمو کې د خپلو استخباراتي ماموریتونو څخه خبرې کوي.



په هغه انځورونو کې چې خپله د جمعیت پلویانو له خوا په ټولنیزو رسانیو کې خپاره شوي دي، د سالم ایزدیار خاورې ته د سپارلو په مراسمو کې د دری پرله پسې بریدونو څخه وروسته، د دغه ګوند ځوانانو څو مړي چې کیدشي ځانمرګي هم نه وي، د موټر شاته یې وتړل او په سړکونو یې راښکل او اور یې ورته واچاوه.

ښایي چې یو شمیر هم د عبدالله، عطا، قانوني او صلاح‌الدین په غربي دریشی‌ګانو او ږیرو په چال باندي غولیدلي وي او دعوا وکړي چې جمعیتیانو بدلون کړي دي. آیا دا په ریښتیا داسې ده او نوموړي تنظیم د اخوانیزم افکارو او کردار سره خدای پاماني کړې ده؟ ښایي چې د جمعیت اسلامی مشران په خپلو ویناو کې دغه ډول کلمې «ډموکراسي، ولس‌واکي، مدیریت او نوري» په کار یوسي خو یوازې بسیاینه کوي چې د وری په ۱۸، د مسعود د مرګ په ورځ، د دغه ګوند کوڅه‌ډبو ځناورتوب ته یو نظر واچول شي چې تر اوسه پوری زموږ د څو تنو هیوادولو د وژل کیدلو لامل شوي دي او لا تر اوسه پوری هیڅوک د قانوني چلند لاندي نه دي نیول شوي. ډیرې بیلګې یې شته خو یوازې په څو دانو یې بسیا کوو.

● د حبیب‌الله حیدري وژل، د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځې محصل، د شورای نظار د کوڅه‌ډبو له خوا چې په ۱۳۸۳ کال کې یې په ډیرې آسانې سره یې د وژل شوي ویښتان بیاتي کړل او وروسته یې خپل لاس او بیاتي د پوهنتون د انګړ نل په اوبو سره ومینځل او د پولیسو د سترګو په وړاندې یې ساحه پریښودله او وروسته د جنرال بابه‌جان له خوا د اعتراض‌کونکو

محصلانو په آرامه او له تاوتریخوالې پرته لاریون باندې د پولیسو برید امر هم لا تر اوسه چا هیر کړی نه دی.

● د فهیم پـه امر باندې د ۱۳۹۲ کال د غویي په ۱۲ د همبسـتگې گوند د غویي د ۷ او ۸ دو تورو ورځو غندلو پر سـوله‌یز لاریون باندې د یو شـمیر امنیتي ځواکونو ځناوریز یرغل او وروسـته د همدغه کسـانو په واسطه زموږ د څـو تنو غړو ربړونه او نیول کیدل، تر دې چې د «بشـري حقونو څارگرو» د نیوکې لامل شو.

● د شرف بغلاني او د نومورې څو تنو لوفرو انډیوالانو له خوا د فرخندې مظلومـه مـرگ چې د فیسـبوک پاڼه یـې د جمعیت گوند مشـرانو سـره په انځورونو ښایسته شوې ده ، د دې خاورې هر باوجدانه انسان په ژړا راوست.

● د سـالم ایزدیار خاورې ته د سـپارلو په مراسمو کې گواکې د ځانمرگو د مړو سره چلند ته په کتو کولای شو د جمعیتیانو «مدنیت» او «ولس واکې» باندې پوهه شـوو. صالح محمد ریگستاني، د شورای نظار اوپراتیفي رییس، د ویناوو پر بنسـټ د جنازې په مراسـمو کې ځانمرگی نه بلکې بمونه ځاي پر ځاي شوي وو.

ظاهـرا، جمعیتیان د وحدتي‌یانو په څیر چې «د روښـنایي غورځنگ» په تنـدی باندي ناسـت وو، د تبعیـض او د پړگنو برابری پـر وړاندې د مبارزې مسئله مخ ته راکاږي. باید ووایو چې په افغانستان کې د ملي ستم په اړوند، د خلکوضد دوه لید لورې شتون لري. له یو خوا څخه د پښتنو شوونیستانو د غور گڼلو تفکر چې پښتانه د افغانستان د قومونو سردارگڼې او د هر ډول ملي ستم څخه منکر دي او د بلې خوا څخه غیرپښتنو قومپرستان یوه لویه ټولگه ده چې د ټولو ټولنیزو بدمرغیو ریښه د ملي ستم او پښتنو په وجود کې ویني. دواړه لیـد لـورې، ډیر ارتجاعي او زموږ د ټولنـې د عیني حقیقتونو پر خلاف دي. دغه ډلې د ملي وحدت خنډ دي او د ملي تضاد په شدت موندلو کې تر ټولـو مهم لامل شـمیرل کیږي. باید چې هیر نه کـړو د نیواک له ځانگړتیاو څخـه یوه دا ده چې ملي مبارزه د طبقاتي مبارزې ځاي‌ناسـتي کوي، خو په حقیقت کې د یو هیواد پړگنو تر منځ د برابري خنډ گرځې.

اشـرف غني، حنیـف اتمر، معصوم سـتانکزی، گلبدین، شـهنواز تني او گلاب‌زوي او د هغوی شوونیست لیکوالانو لکه اسماعیل یون، واحد طاقت، روسـتار تره‌کي او نورو ته د پښتنو مشـرانو او استازو نوم ورکول، په حقیقت کـې دغه ملي‌ضد عناصرو او خاینانو ته اعتبار وربخل دي. دوی، هیڅکله په

هلمند، پکتیا او ننګرهار کې د پښــتنو مظلومه خلکو او بې‌وزله بزګرانو څخه استازېتوب نه کوی. هغه رنځیدلې خلک چې هر ورځ د طالبانو، داعش او د امریکایــی نیواکګرو ځواکونو په بمبار او دولتی ځواکونو د بریدونو په وړاندی قربانې ورکوی او د بنــوونې او روغتیا له نعمت څخه په بشپړه توګه بی برخې دی. ارګ هم د دغه موقعې څخه په ګټې اخیستې سره په دی هڅه کې دی تــر څو کرغیــړن ګلبدین چې تر نن ورځې یی د ســولې تر نامــه لاندی روزل شــوی او پنډ کــړی دی، کار واخلې او میدان ته یــی راوړی. خو هماغه ډول چې طالبانو او حزب اســلامی د پښــتنو څخه اســتازیتوب ونه شــو کولی، په هماغــه ډول به هیڅکله جمعیت اســلامی د تاجیکانو څخه، حزب وحدت د هزاره‌ګانو څخه او اسلامی غورځنګ د اوزبیکانو څخه استازېتوب نشي کولی. دغه بنسټپالو او خاین ګوندونو، له هرڅه وړاندی پر هغو ملیتونو ناتار او ظلم کړی چې د هغوی څخه د دفاع خبری کوی. له بدمرغه د اخوانیانو او د ارګ ارتجاع تر منځ شخړی، د پرګنو او ملیتونو تر منځ نفاق ته ډیره لمن وهی، او دا هــر ملیت روڼ‌اندو دنــده ده چې تر ټولو د مخه د خپلې پرګنې جنایتکاران بربنډ کړی.

هغــه کیږدی چــې د حبیب‌الله کلکانــی په نوم ودرول شــی او د خوراکې توکــو ملاتــړ یــی د دوســتم او صلاح‌الدین ربانی لــه خوا وشــي، هیڅ کله د زنبق څلورلارې د ځانمرګې برید کې د وژل شویو لپاره عدالت‌غوښتنه کیدلی نه شــي. د «روښــنایی غورځنګ» څخه په درس اخیســتنې ســره کولی شو دغه پایلې ته ورســیږو چې شونې ده یو شــمیر ځواکونه د خلکو د غوښتنو او شــعارونو په نامه ســړکونو ته راشي، خو د دغه ډول غورځنګونو په سره کې د جنایتکارانو او یا وژونکو شــتون، هیڅکله روښــنایی او بدلون له ځان سره نه لــری. نباید د امریکا د تورپوټکو مدنــی حقونو غورځنګ مبارز رهبر، مارتین لوتر کینګ ویناوي، له یاده وباسو: «تیاره نه شی کولی تیاره له منځه یوسئ؛ دغه کار یوازی له رڼا څخه کیږی...»



لیکونکی: ماریا

# حسن:
# «هیچا له ما سره مرسته ونکړه»!



د ۱۳۹۶ کال د غبرګولی میاشتې په ۲۸ نیټه خپل کړیدلي هیوادوال حسن لیدنې ته ولاړو. شاوخوا پنځه میاشتې کیږي چې هغه د بې‌کورې له امله د خپلو ماشومانو سره د صحت عامې تر څنګ د سرک په غاړه کیږدۍ کې اوسیږي. حسن چې په جلال‌آباد کې د ګاډو په سوداګرۍ بوخت و، د یوې دسیسې په ترځ کې یې خپله ټوله شتمني له لاسه ورکړه. هغه خپل شکایت تر دولته ورسوه، خو ژوند یې نور هم تریخ شو، آن دا چې پر میرمن یې جنسي تیری وشو.

حسن خپله کیسه داسې بیانوي:

«...د جلال‌آبا په ښار کې اوسیدلم او د ګاډو سوداګرۍ په کار بوخت وم. د یو شرکت سره چې په هغه کې پاکیستانیانو کارکاو خو په اصل کې د ننګرهار ولایت څخه د ولسې جرګې غړی پیربخش ګردیوال پورې تړاو درلود د ګاډو پلورلو په یوه سوداګریزه معامله کې ماته مالي زیان را واوخت. د معاملې بشړیدو او حساب پاکولو




د حسن عریضه ولسمشرۍ ریاست ته

وروسته، شرکت له ما څخه پوروړی شو، خو زما پور لا تر اوسه نه دی راکړل شوي. د ستونزې حل لپاره مې د بهسودو په ولسوالۍ عریضه وکړه، خو هیڅ راسره مرسته ونکړه. پیربخش له ما څخه وغوښتل چې د خپلې دعوا څخه تیر شم، خو ما د هغه غوښتنه ونه منله. ګواښ یې راته وکړ، په پای کې دي ته اړباستل شوم چې په ۱۳۹۱ کال کې جلال‌آباد پریږدم او کابل ته راشم او په طلایي ښارګوټي کې استوګن شوم. خپلې دعوا ته مې ادامه ورکړه تر څو خپل حق ته ورسیږم.»

خو کابل ته کډوالیدلو هم د حسن او د هغې کورنې حال ته کومه ګټه ونه رسوله او وضعیت یې لاپسې بد شو:


د حسن میرمن او ماشومان

«کله چې زه کابل کې نه وم زما د خولې بندلو لپاره پیربخش زما د میرمنې خپلوانو له لارې یې خپل کسان زما کورته رانښتل او هغوي زما په دویمه میرمن تیری وکړ. زه له دغې پیښې څخه ناخبره پاتې وم. میرمنې مې له ویري څخه په دغه اړوند ما ته څه ونه ویل. وروسته د هغې ویډیو په واسطه چې د تیری له بهیر څخه اخیستل شوی وه وګواښلم. هغوي زما لپاره د درواغو دوسیه جوړه کړه او څلورنیمې میاشتې مې په زندان کې تیري کړی. دا چې بې‌ګناه وم نو له بندخونې راخلاص شوم.

په دغه لړکې مې د خپل ژوند ټوله هستي او نیستي له لاسه وتي وه او اړ شوم چې په شاه شهید کې په باړه باندی کور راونیسم.

خـو بیا هـم د پیربخش د لاسـوهنو او زورواکې لـه امله د ۱۳۹۵ کال د مرغومـی میاشـې په اولـه نیټه په زور او ظلـم له کور څخه وویستل شـوم. څو شپې ورځې مې د خپلو ماشومانو سره د کابل په سـړه هوا کې پر سـړکونو باندی تیري کـړی. د طلوع تلویزیون او ژونـدون تلویزیـون د هماغـه کال د مرغومـی میاشـتې په ۲۵ نیټـه زمـا له ځورونکې وضعیت څخه یو راپـور چمتو کړ. پیربخش طلوع تلویزیون ته ګواښ ورکړ تر څو د دغه راپور د خپریدلو خنډ وګرځي. شپې مې په جوماتونو کې تیري کړی.»



د حسن سوځیدلې شوي کیږدۍ

حسـن وایی نه یوازې دا چې نیوکو ته یی رسـیدنه نه ده شوي بلکـه دولتي چارواکو له خوا آن د ګواښـلو، ربړونو او وهلو او ټکولو لانـدی نیول شـوي دي. د هغې کیـږدۍ تـر هغـې وروسـته چې د اړونـدی سـاحې د حـوزې آمر لـه هغه څخه غواړی چې سـیمه خوشـی کـړی، اور اخلـې. هغـه وایی: «د خپلو ماشـومانو سـره په کیږدۍ کې ناست وم چې په ناڅاپی توګه کیږدۍ له یوی خوا اور واخیسـت. دوه توشـکې او دوه کمپلې په بشپړه توګه په اور کې وسـوځیدلی. یوازی مې وکولې شـو چې د ګاز ډبه له اور څخه لری کړم او له هرومرو مرګ څخه وژغورل شو» هغه اوس په هماغه سیمه کې په بله کیږدۍ کې چې د خلکو له خوا ورسره مرسته شوې ده ژوند کوي.

پیربخـش ګردیوال د ننګرهار په ولایت کې د جمعیت له قومندانانو څخه وو، هغـه د جنرال پترولیم او پیر بابا شـرکت خاونـد دی. ویل کیـږی د هغه اصلـی دنـده د یونس قانونی غیر قانونی سـوداګری پر مـخ وړل دی. هغه د ولسمشری په ټاکنو کې په ننګرهار کې د عبدالله پلویانو څخه وه، حسن وایی چـې د هغـه په کیس کې عبدالله له پیربخش څخـه ننګه کوی او په همدغه لامل هیڅ محکمه او قاضی د هغه د جنایت څیړلو جرات نه لری.

د حسـن په شـان، سـلګونه هیوادوال لرو چې د زورواکو د ناتاری لاندی نیول شـوی دی او په چیغو او واویلا د هیواد په فاسـدو محاکمو کې لالهانده دی. زمـوږ هیوادوال باید دغه پوهاوي ته رسـیدلې وی چې د هیواد قضایی

سیستم له هغه جنایتکارانو څخه اغیزمن دی چې د دولت په لوړو څوکیو کې ناست دي. څه وخت چې دولت له مفسدو، قاتلانو، غلو، تیری‌کونکو، چوپړانو او ... خلکو څخه ډک وی، څنګه به د حسن په شان هیوادوالو کوکارو ته رسیدنه وکړی؟



پیربخش ګردیوال د عبدالله او صلاح‌الدین ربانی سره یوځای




**د ترهګرۍ پر وړاندې د ملګرو ملتونو کړنې**

کارتونیست: جهاد عورتانی



لیکونکی: کاوه عزم

# حلیمه او سما، په صحت عامې روغتون کې د سلګونو قربانیانو څو بیلګې



سما، ۹ کلنه نجلۍ چې د سکې له تیرولو وروسته د هغې مور له خوا د جلال آباد صحت عامه روغتون ته یوړل شوه خو د ډاکټرانو بې‌پامې لـه امله یې خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د شپې ۱۱ بجې دی او پایواز غوښتنه کوي: «ډاکټرصاحب، زمونږ د ناروغ حالت ډیر خراب دی. له ګهیځ څخه تر اوسه پوري په پرله پسې توګه کانګې کوي. داخله ډاکټر وویل کله چې تاسو مې ناروغه یو ځل له نږدې څخه معاینه کړی.»

د جراحې ډاکټر په غوسې سره په ځواب کې وویل: «دا د ناروغ‌یدلو وخت دی؟ ټوله ورځ مو کار وکړ اوس تاسې په نیمه شپه کې هم مونږ آرام ته نه پریږدي. ته لاړ شه او د کاکا له کوټې څخه یو چاینک چای راوړه، بیا به ستا ناروغه وګورم، تر هغه وخته نمرې.»

د ننګرهار په صحت عامه روغتون کې د پایواز او یو ډاکټر لنډې خبرې

اترې.

پرته له شکه د افغانستان په ډېرو روغتنونو کې حالات له دې څخه ښه نه دي: د مراجعینو سره ناوړه چلند، د ناروغانو څخه د میوو او خوړو اخیستل، د ناروغانـو په وړانـدې بې‌پامـې او بې‌پروایې، بې‌نظافتـې، د غیرضروري او تاریـخ تېرو درملو ورکـول او بیا هغه په اړوندو درملتونونو پلورل او لسـګونه نورې ستونزې.

سـربیره پر دې، ګڼ شـمیر ناروغان نیوکه کوي چې په دولتي روغتونونو کې ګومارل شـوي ډاکټران، خپل شـخصي کلینیکونه لـری او ناروغان دې ته هڅوي چې د «سـمې» درملنې په موخه هلته ولاړ شـي. خو له هغه ځایه چـې زموږ خلـک په ډېر ناوړه اقتصادی وضعیت کـې ژوند کوي، د دغه ټولو سپکاوي منلو څخه پرته بله لاره نه لري او دولتي روغتونونو ته مراجعه کوی چې نه یوازی په سـمه توګه یـي درملنه نه کیږی چې په ډېـرو مواردو کې د ناروغانـو حالت خرابیـږی او یا له منځه ځی. البته، پـه خصوصي روغتونونو دغه وضع ډېره خراب ده او پیسه دوسته اسمانڅکالي د هغوي وینه څښکې.

پـه افغانسـتان کـې هـره ورځ ناروغان د مسـلکي ډاکټرانـو او لومړنیو او معیاری چوپړتیاو نه شتون له امله، خپل ژوند له لاسه ورکوي.

د دغـه «قصابانو» (د ننګرهار خلک ناجایزه ګټه اخیسـتونکی ډاکټران د قصـاب پـه نامه یادوی) بد چلنـد بیلګې د دوو ناروغانـو د خپلوانو ژبو څخه رانقلو چې د درملنې وړ ستونزو سربیره د مرګ غیږې ته لاړل.

د ۱۳۹۴ کال د تلې په ۲ نیټه، د رازمین ۱۸ کلنه لور حلیمه د نس‌خوږی څخه شـکایت کوی. د هغې ورور او مور هغه د درملنې په موخه «د ننګرهار صحت عامې روغتون» ته وړي. په بیړنې څانګه کې د لومړنیو معایناتو څخه وروسـته هغه د التراسـاوند لپاره د روښـان په نامه یو شـخصي کلینیک ته لیـږی. د معایناتو په پایله کې څرګندیږي چې د ناروغ اپنډکس پړسـیدلی او باید سمدسـتي جراحي شي. تشلاسې او بې وزلې حلیمې ته ډاکټر پاملرنه نه کوی او لومړیتوب د زورواکو خپلوانو او واسطه لرونکو ته ورکول کیږي.

د هغې ورور وایی:

«له ډاکټرانو څخه مې غوښـتنه وکړه چې زموږ ناروغه عملیات کړی تر څو له لاسـه یې ورنکړو خو ډاکټرانو په غوسـی سره وویل نه ګورې چې بوخت یم. د خپل وار په تمه اوسـه او هر وخت چې دې وار راورسید بیا یې عملیات کوو.»

له پرله پسې غوښتنو او ټينګار څخه وروسته، په پای کې د شپې ۱۱ بجې د حليمې د علميات نوبت راورسيده. د اپنډکس عادي عمليات چې عموما په يوه کړۍ کې پای ته رسيږي، ۴ ګړۍ يې دوام وکړ او د کار له پای څخه وروسته، ناروغه د کوما په حالت کې وه او خپو ته يې وينه نه رسيدله. د عمليات څخه يوه کړۍ وروسته، حليمه مړه کيږي خو تر نن ورځې يې د مرګ لامل ناڅرګند دي. د ځينو ډاکټرانو د دعواګانو له مخې، د هغې د مرګ لامل د بې‌هوښه‌کونکو مواد ډيرول وه.

محمد شهيد، د سما ماما چې يو بله قرباني ده، د ننګرهار صحت عامې ډاکټرانو له خوا د خپلې خورزې له ستونزو ډکه کيسه په دا ډول بيانوي:

«سما، زما ۹ کلنه خورزه، ۱۳۹۵ کال د وږی مياشتې په ۱۸ نيټه پينځه‌ګون يوه سکه تيره کړی وه. هيڅ ستونزه يې نه لرله خو مور يې د مورنۍ مينې له مخې د ننګرهار صحت عامې روغتون ته راوړه چې ډاډمنه شي کومه جدي ستونزه خو نلری. له دی څخه ناخبره وه چې خپله لور په خپلو لاسو د ځنګلي ځناور خوا ته د ځيرلو لپاره وړی.

څه وخت چې ډاکټران سما ګوري، د پنس او قيچي سره د هغې په ځان چنګاويږي او د هغې ستوني ټپي کوي. د سما له خولې څخه وينه راځي او ډاکټران د هغې ته په مور غوسه کيږی چې د هغې خوله په کاغذ تشناب پاکه کړی. سما چې په خپلو خپو روغتون ته تللې وه د مور په غيږه کې کور ته راګرځې. ټوله شپه ويده نه شوه او چغې او کوکاره يې کولي، هيڅ شی يې خوړلې نه شو. ځيره او سترګې يې پړسيدلي او شنې شوی وې.

په سبا يې، زما خور ما سره اړيکه ونيوله چې د سما وضعيت ښه نه دی. په داسې حال کې چې زه لری وم، هغې ته مې سپارښتنه وکړه چې هغه په ګړنديتوب سره روغتون ته ورسوي، د دويم ځل لپاره سما د روغتون بيړنې څانګې ته وړی، ټاکلی ډاکټران هغه د ماشومانو څانګې ته ليږی. د ماشومانو ډاکټران وايي چې هغوي پوری اړه نه لری او بايد د غوږونو او ستونې څانګې ته ويوړل شي. د دغو لانجو او کونجو د هرې دقيقې په تيريدو سره د سما حالت خرابيدو په لور روان وه. مور يې په کوکارو سره ډاکټرانو ته وويل تر څو يوه چاره وکړی او د هغې لور وژغوي.

د سما مور ته ډاکټر سیروم او کنول ولیکه چې له بهر څخه یې چمتو کړي. خو کله چې د سما مور د سیروم او کنول سره راوګرځیده، لور یې نوره ژوندۍ نه وه.»

ناویلې دې پاتې نه شي چې د نوموړي روغتون سره څو نړیوالی موسیسی د درملو او طبي وسایلو مرسته کوي خو دغه درمل د یو شمیر ډاکټرانو او رییس له خوا پلورل کیږي او ناروغان اړباستل کیږي تر څو د خپلې اړتیا وړ معاینات او درمل د ننګرهار یو نامتو غل ګلمراد له اړوند شخصي لابراتوارنو او درملتونونو څخه په بیه واخلي.

د شرق تلویزیون د خلکو غږ په پروګرام د یو راپور په لړ کې ښودل شوي چې د صحت عامې روغتون ډیپو د مرسته شویو سیروم او د درملو له ډولونو څخه ډکه ده او ډاکټران هغه په بازار کې پلوري.

دغه دوه کیسې، په دې خاوره کې د بې‌وزله انسانانو په وړاندې د روغتیا په ځانګه کې د بې شمیره جنایاتو څخه یوازې یو څو بیلګې دي چې مسوولیت یې یوازې په یو څو ډاکټرانو پورې تړلي نه دی او باید لوړ پوړي چارواکې د وزیر تر سطحې پورې د قانون منګولو ته راښکل شي چې ولې د هغوي په شتون کې، د افغانستان عامه روغتیا د خیالي کلینیکونو او فساد او لسګونو نورو خیانتونو څخه کوکاري وهي.




**ځوک پوښتنه لري؟** | کارتونیست: Tom Janssen

پښتو ۹مه ګڼه، پسرلی ۱۳۹۶



لیکونکی: کاوه عزم

# نورمحمد د کرغیړنو طالبانو له لوری په ځناوریزه توګه ووژل شو




په ډیرې خواشنۍ سره مو خبر تر لاسه کړ چې نور محمد، یو روڼآندی او پر هیواد مئین ځوان د ځناورو طالبانو له لوری په شهادت ورسیده چې له همدې کبله د همبستګۍ ګوند د هغه کورنۍ او دوستانو ته تسلیت وای او دا ژمنه کوي چې د نور محمد او هغه په څیر د سلګونو نورو ځوانانو د وینې غچ اخیستلو پوری به خپلې مبارزې ته ادامه ورکړي.

نورمحمد د ولی محمد ځوی په ۱۳۶۰ کال کې د ننګرهار ولایت دره‌نور ولسوالۍ په وایګل کلي کې په یوه بیوزله کورنۍ کې وزیږیده. هغه لا اته کلن ماشوم و چې پلار یې ومړ او کورنۍ یې چې ۵ وروڼه او ۲ خویندې وې له سختو ستونزو سره مخ شوه. په ورکتوب کې له خپلې کورنۍ سره د ډوډۍ په پیدا کولو کې مرسته کوله او له غره نه به یې لرګي راوړل.

کله چې تنظیمي ډلو ټپلو واک تر لاسه کړ او په هیواد کې غوبل پیل کړ، نورمحمد هم د نورو هیوادوالو په څیر پاکستان ته مهاجر شو او نوښار ته نږدې د کډوالو په یو کمپ کې چې د خیوې کمپ په نوم یې شهرت درلود

میشت او هلته د شهید قباد په مکتب کی شامل شو او تر ۱۲ ټولګی یی هلته زده‌کړی وکړې.

له هغه ځایه چی په دې کمپ کی ځوانانو ته د لوست تر څنګ د ورزش زمینه هم برابره وه نو نورمحمد هم د مکتب فوټبال ټیم سره یوځای خپل ورزش ته ادامه ورکړه چی په لږ وخت کی ډیر پرمختګ وکړ. هغه په ګڼو سیالیو که ګډون درلود او ښې لاسته راوړنی یی هم لرلې. نورمحمد ددې ترڅنګ چی یو تکړه ورزشکار و ډیر زیات زړه‌ور او د ښو اخلاقو خاوند هم وو. له ملګرو او دوستانو سره یی نیکې اړیکی لرلی او د کورنۍ په څیر یی ورسره چلند کاوه.




نورمحمد هم د مکتب فوټبال ټیم سره یوځای خپل ورزش ته ادامه ورکړه چی په لږ وخت کی ډیر پرمختګ وکړ.

په فرهنګي برخه کی هم نورمحمد خورا زیات استعداد درلود. په هغو کلونو چی هیواد د جنایتکاره اووه‌ګونی او اته‌ګونی ګوندونو خپل منځي جګړو کی په کنډواله بدل شوی وه او په زرګونو هیوادوال مو ووژل شول، نورمحمد د مکتب له ملګرو سره د تیاتر په واسطه د تنظیمی مشرانو جنایتونه او د خلکو درد او رنځ بیانوه.

شبیر چی د هغه له نږدي ملګرو او همصنفیانو له ډلی څخه دی وای:

«نور محمد ډیر زیات با شهامته او زړه‌ور هلک وو. په هغه وخت چی پیښور د ګلبدینانو مرکز وو او چا به د هغوی پر ضد خبره نشوه کولای نو زه او نورمحمد د یو کار لپاره پیښور ښار ته

ولاړو. په ښارکی مو د حزب اسلامی یو پلوی سره نوروز لمانځلو پر سر شخړه شوه. نورمحمد د ښار په منځ هغه ګلبدینی لومړی په خبرو او وروسته د سوک او لغتو په وسیله ښه وواهه. هغه له هیچا ویره نه لرله او په لوړ غږ یی ګلبدین ته ښکنځلی کولی.»

له دولسم ټولګی فارغیدو وروسته د اقتصادی ستونزو له کبله نورمحمد ونشو کړای چې خپل لوست ته ادامه ورکړی نو اړ شو چې د ملی اردو سره یوځای شی. درې کاله یی په هلمندکی دنده ترسره کړه چې وروسته کابل ته راغی او افسرۍ کورس یی بشپړکړ او کندهار ته د یو افسر په توګه ولیږل شو او له هغه ځایه د زابل شاجوی ولسوالۍ ته تبدیل شو چې تر پایه هماغلته پاتی شو.

نورمحمد چې پرمختللی فکر درلود له همبستګی ګوند سره هم نږدې اړیکی لرلی. په وایګل کلی کی یی د ګوند په ډیرو ناستو کی ګډون درلود او تل یی خپل خپلوان دې ته هڅول چې د ناخوالو او ظلمونو پر وړاندی چُپ پاتی نشی او باید خپل غږ اوچت کړی.

نومورې چې په ځوانۍ کی واده کړی و ۳ زامن هر یو امیر محمد ۱۲ کلن، بکتاش ۱۰ کلن، رامش ۵ کلن او یوه لور عالیه ۳ کلنه درلوده. نور محمد چې د لیک او لوست په ارزښت پوهیده نو هڅه یی کوله تر څو خپلو اولادونو ته د درس ښه زمینه برابره کړی له همدی کبله هغه د جلال‌آباد ښار ته څیرمه یوه نمره ځکمه واخیسته تر څو زامن او لور یی وکولای شی په ښه توګه خپل لوست پر مخ بوځی. کور یی لا بشپړ نه و چې ۱۳۹۵ کال د کب میاشتې په ۱۷مه نیټه له خپلو دوه ملګرو سره یوځای چې په رخصتی خپل کور ته روان ول د میدان وردګ ولایت په سالار سیمه کی د ځناور طالبانو له لوری ونیول شو او له دوه ورځو ربړونو وروسته یی په شهادت ورسول چې د سیمې خلکو د هغوی مړي په یوه دښته کی وموندل او خپلو ماشومانو روښانه راتلونکی ته د هغه هیلې له خاور سره خاورې شوی.

د هغه پر بدن د ربړونو نښو او د لاسونو تړولو څخه دا په ډاګه ښکاریده چې هغه تر پای د کرغیړنو طالبانو پر وړاندی مقاومت کړی وو او نه و تسلیم شوی.

## یاد یی ژوندی



لیکونکی: مریم مروه

# د رنځیدلې مور سره چې د درې ځوانو ځامنو جنازې ورته وسپارل شوې، خبرې اترې




نوم یې شیما دی چې د کابل په یو څنډه کې په یو ویجاړ کور کې ژوند کوي. په لومړنی لید سره، کولې شو چې د هغې په معصومه څیره کې ژور درد او رنځ بیامومو. یو رنځیدلې مور ده چې د درې ځوانو ځامنو جنازې په یوه ورځ کې ورته وسپارل شوی. غریبی او بی‌روزګارې د هغې ځامن دی ته اړباستلې وو چې د اردو لیکو سره یوځاې شي او د هیواد په ډیرې ناامنې سیمه کې جنګې ماموریت ته ولاړ شي.

۲۹ کلن محمد ظاهر، ۲۲ کلن محمد حفیظ او ۲۰ کلن محمد جاوید د ۱۳۹۵ کال د سلواغې په لومړی نیټه د هغوی پر پوسته باندی د یو ځانمرګې برید په ترڅ کې د کندهار ولایت میوند ولسوالې کې ووژل شو.

محمد جاوید او محمد حفیظ مخکې د لاسګا ډی په واسطه په آیسکریم خرخولو باندی بوخت وو خو کومه ښه ګټه یی نه درلودله نو ځکه، یی پریکړه وکړه چې د ملی‌اردو سره یوځاې شي. د هغوی له منځ څخه، ظاهر او حفیظ کوژده شوی وو نږدی وه چې د هغوی د واده مراسم هم ترسره شی.

شیما کلونـه د خپل خاونـد د فلج کېدلو لـه امله خپلو ځامنو سـاتلو او ډوډۍ پیدا کولو دروند پېټی یې په یوازې توګه ویوړ. له سهاره تر شپې پورې د نـورو خلکـو کورونو کې په پاککاری او جامو پـه پرېمنځلو بوخته وه تر څو خپـل ۹ ځامـن د لوږې څخه وژغوري. خو د تنظیمـي جنګونو او د طالبانو واکمنې پر مهال، مشر ځوی یې چې په هغه وخت کې لومړی ټولګي کې وو، د تعلیم له ادامې څخه بې برخې شو.



شیما: غریبی له یوې خوا، د مسعود او ګلبدینیانو جنګ له بل پلوه موږ برباد کړو.

دغه مور چې ډېره سخته ناروغه ده او د زامنو مرګ هغه بیخی ماته کړی، په داسې حال کې چې اوښکې یې تویولې وویل:

«په ډېرو ستونزو مې لوی کړل ښوونځي ته تلل کتابچه او قلم یې نه درلودل، ښې او منظمې جامې یې نه لرلې آن تر دې چې هغـوی تـه وچه ډوډۍ په سـمه توګه نه رسـیدله، ورځې یې به په ایشیدلو پټاټیو تیرولې. غریبی له یوې خوا، د مسعود او ګلبدینیانو جنګ له بل پلوه موږ برباد کړو.»

د شیما مشر ځوی محمد عارف د فراه په ولایت کې سرتیرې دی. د هغه د درې ورونو ناڅاپي مرګ هغه ته دروند زیان رسـولې دی او په ناسـم روحی وضعیت کې قرار لري. په داسـی حال چې د غوسـی څخه یی لاسـونه او غړ لړزیده په لوړو کوکارو یی وویل:

«زر افغانـې می نه درلودلې چې خپل ځان جنازه ته ورسـم. په دغه مرګونې لاره کې په څو ځایونو کې د طالبانو پوسـته ده، مرګ پـه لاس کـې نیولې پـه ګاډۍ کې راغلم. دغه دولـت تر هغه کچه

بی‌کفایته دی چې په خدای قسم د هیڅ‌ پا په غم کې نه دی. د هیڅ‌پا پروا نه لری. یوازی د ځان په فکری کې دی. آن تر دی چې چمتو نشول چې مړي په پوځي الوتکه کې ولیږدوی.»




د شیما کور

د کورنې ټول غړي د ع او غ د کرغیړن او خوسا شوی حکومت څخه غوسه وو ویل یی د چارواکو څخه خو تنه، چې وی نه غوښتل د هغوی نوم واخلی، د هغوې څنګ ته د نداریزو انځورونو اخیستلو لپاره راغلل او یو شمیر ناخیره پیسی یی هغوی سره مرسته وکړه خو په ټولنیزو رسنیو کې یی د ځان ښودلو لپاره د پیسو شمیر دو برابره لیکلې وو.

د شیما د کوکارو او هڅوکې‌سوزونکې چیغې کلک زړه غواړی خو د «چارواکو» پلورل شوی وجدان نه لړزوی. د حکومت د لوړ پوړو چارواکو فساد او خیانت دی چې د اردو او پولیسو ځوانانو د ټول‌وژنې لړی روانه ده، هغوي حتا د جګړې لومړی لیکې سرتیرو د ډوډۍ او مهماتو پیسې په بډه وهې، په معاملی‌کولو سره پوستې طالبانو ته سپاری او څو ځله ځواکونه په محاصره کې د وزارت دفاع د بی پامی له امله دی ته اړ شوی، چې خپل غږ د دی یا هغې رسنۍ سره په اړیکه کې د خلکو غوږونو ته ورسوی. د قربانیانو د کورنیو حق هم د بی‌سواده جنرالانو او سترجنرالانو له خوا خوړل کیږی چې د متحده اماراتو آپارتمانونه چې د شهیدانو او معلولینو څخه د پاتې شوی کورنیو حق وو، لیلام کول د هغې یوه وړه بیلګه ده چې په دغه ورځو کې رسنیزه شوی ده.




لیکونکی: نوید نابدل

# په جهادي خپرونو کې ښځې ته د منځنۍ پېړۍ لید




د امریکا د بی۵۲ په زور د ځواک په کرسۍ د جهادیانو د بیاځلي کینول څخه وروسته، د ښځو سره د تربګنۍ سربیره، یوځل یې د ښځو ستاینې په اړوند غټې خبرې پیل کړې تر څو لومړۍ خپل ځان د امریکا غولونکې شعار «د افغانو ښځو خلاصون» سره برابر کړي او د دې تر څنګ دا وښایي چې طالبانو څخه توپیر لري او پرمختللې دي.

خو د بنسټپالو تنظیمونو پرله پسې توري کړنې ددې ګواه دي چې دغه ډلې یوازې سړيواکه دي او د ښځو سره ډېر کلک ضدیت لري. د دوی د جنایت او خیانت په ډک تاریخ کې له نیکه‌مرغه هیڅ یوې ښځې هم لاس نه درلود او اصلا دوی د خپلو طالبی همفکرانو څخه بدتره، د ټولنې نیمایی نفوس یې ګوښه کړی وو. حزب اسلامی، جمعیت اسلامی، اتحاد اسلامی او نوري جهادي ډلو حتا یوه ښځه یې د خپلې رهبرۍ په پوړ کې څه چې په لیکه کې نه درلودله خو په تیره یو نیمه لسیزه کې د مجلس سینګار لپاره یو شمیر ښځې د پیسو او مقام په بدل کې په خپلو تبلیغاتي نانځکو بدلې کړې

او د ښځو څخه د دفاع کولو اکټونه کوي.



هغه جهادیانو چې د ښځو کتل یې حرام ګڼل، اوس د خلکو غولولو لپاره د «بی‌حجابه» او «نامحرمه» ښځو سره یادګاری انځورونه اخلي، مخ ته خو په عمل کې د شهیدی فرخنده له وژونکو څخه ملاتړ کوي.

د تنظیمونو د ماهیت د پېژندلو لپاره، پخوانی خپرونې یې ډېر ښه لاسوندونه په لاس راکوي. ما د ربانی «جمعیت اسلامی» څخه «میثاق خون» خپرندویه، د ګلبدین «حزب اسلامی» څخه «شفق» او د سیاف اتحاد اسلامی څخه «حق پاخون» لسګونه شمیرې مجلې وکتلې، په هغوی ټولو کې یوازې د «میثاق خون» د ۱۳۶۶ کال د سلواغی میاشت په ۱۱مه ګڼه کې یو د ښکنځلو ډکه لیکنه د «افغانستان ښځو انقلابی جمعیت» په وړاندی د «پیام‌زن خپرونې جهادی‌ضد اپلتو په ځواب کې» تر سرلیک لاندی ومونده او بله هیڅ یوه کلمه می د ښځو په اړوند په هغوی کی پیدا نکړه.

او د دې تر څنګ په یو جزوه کې د «جهاد ارشاد د جمعیت اسلامی افغانستان رهبرځرګندونې او پیغامونه» تر سرلیک لاندی چې د ۱۳۶۹ کال په منې کې خپره شوی ده د نظر څخه تیره کړه. په ۳۶۵ پاڼو کې، برهان‌الدین ربانی د هر څه په اړوند خبری کړی خو د ښځو په اړوند مې کومه جمله و نه موندله. تر دی چې د هغه د اختر او نوی کال پیغامونه هم «ورونو» ته دی او بس.

بویا ډیری جهادی ګوندونه ډیر وروسته په اصطلاح د ښځو هم خپرونې پیل کړې. د بیلګې په توګه حزب اسلامی د «مسلمانې ښځې پیغام» او د

«نساء» او جمعیت ګوند هم د «افغانستان د مسلمانو ښځو غړ» په نامه مجله درلوده.

له دغو سپکو «ښځینه» خپرونو څخه مې چې کومې مجلې په واک کې درلودلې راټولې کړې چې هغې ته په پام سره کولي شو په دې وپوهیږو چې د ښځو په اړوند د اخوانیانو فکر د طالبانو او داعشیانو د منځنۍ پیړۍ له لید سره کوم توپیر نه لري.



آن تر دی چې کریم امین، د راکټیار د تیزاب‌شیندونکي ګوند استازی چې تر پرونه پورې یې د ځانمرګې‌بریدونو څخه دفاع کوله، د دنیا څخه بیخبرو ځو ښځو سره نندارېز انځورونه اخلي تر څو دا په ډاګه کړي چې د امریکا د مریانو د قافلې څخه شاته نه دی پاتې!

د دغه خپرونو په هره پاڼه کې یوازې د «حجاب په مراعات» ټینګار شوی او بس. هغوی داسې استدلال کوي چې ګواکې د ټولنې ټولې بدمرغې او اخلاقي فساد د ښځو په «بې‌حجابي» کې ریښې لري! که چیرې یو سړی د «بې‌حجابه» ښځې په لیدلو لاره ورکه کړه نو پر هغې یې تیری وکړ، سړی ګرم ندی، دا ښځه ده چې هغه یې «تحریک» کړی دی او باید سزا ووینې!

«د افغانستان د مسلمانو ښځو غړ» د ۱۳۷۰ کال د سلواغه په پنځمه ګڼه کې د خندا نه ډکې او ملنډې وهونکې جملې په دې اړه لیکلې دي:

> «ستر او حجاب دی چې د شیطاني وسوسو د نفوذ خنډ کرځي... حجاب د شیطان د سترګو ړندونکی دی... بې‌حجابه ښځه نه عزت او نه درناوی لري او هم د خلکو ترځنګ سپکه او بې قدره وي او همدارنګه د شهواني او هوس‌باز انسانانو د سترګو تر تیرې لاندې وي د هغې پایله دا کیږي چې د ښځې شخصیت د هوس‌بازو د پښو لاندې له منځه ځي او د ښځې سپیڅلتیا او پاک‌لمنې له منځه ځي...»
>
> «د بشر تاریخ دا په اثبات رسولې چې بې‌حجابي د سپکو کړنو لکه د پردیو ښځو سره د نږدې کیدلو، نڅا او حیاسوزونکې حرکات او زنا او بدکارۍ لامل ګرځي.»

«د بې‌حجابو ښځو شتون د ټولو ټولنېزو او فردي فسادونو سرچینه ده چې د بشري ټولنې یو یو کس ته د انکار وړ نه ده... او همدارنګه د حجاب د مراعت او اصولو څخه د ښځو په ناز او نخرو سره په لار نه تلل او پستی او نازکې خبرې نه کول دي او که چیرې ښځې دغه چارې ترسره کړي نو ټولنې ته د فساد دروازه خلاصیږي.»


باید یاد آور شد که به هیچصورت بغیر محارم اجازه نیست که بازنان غیر محرم اختلاط نمایند چنانچه امروز یك تعامل غیرشرعی میان مسلمانان رواج یافته که پسر ماما پسر کاکا وبرادرشوهر زن وغیره دوستان را غیر محارم نمیدانند، در حالیکه اینها غیر محرم بوده چنانچه

هر آن زنیکه خوشبوئی وعطر بزند وسپس بر قومی مرور کند که بوی آن عطر را در یابند آن زن زانیه است و هر چشم زنا کننده است.

بی مورد و بی جا نخواهد بود که روی علت مشترکه ئی که عبارت از عمل منافی حجاب که صدای پایزیب زیورات جلب نظر می نمایند و باید هم که پای کوبی صورت نگیرد، میتوان گفت که بوت های کوری بلند زاغ خول. در وقت رفتار صدای تك تك آن برمی آید و امکان آن نیز نیست که صدای آن بلند نشود، و با پاکردن همچو بوتها حرکت ورفتار عادی نیز تغیری میخورد. عضلات ساقها رانها بلند و بحرکت غیر عادی مبدل میگردد. بناء در بیرون خانه از همچو بوتها خود داری شود.

ندای زنان مسلمان افغانستان

جمعیت اسلامی افغانستان

آواز زنان ستر وعورت نیست بشرطیکه گفتگو ها ومسایل شکل عامه ورسمیت داشته باشد و در سخنان زن لین تکاثر یعنی نرمی وشکسته گی و چوبنداشته باشد. و از بسیار بلند گفتن نیز ممانعت ثابت است به اندازه ئی صحبت نمایند که یکی دونفر مجلس بخو بی آواز زنرا بشنوند وصدا دور نرود، ولازم بتذکر است که در صورت ممکن سعی شود تا ازپس پرده یعنی وراء حجاب مکالمه بازنها صورت گیرد.

واگر بیدون کدام ضرورت شرعی کسی بلوز زنان گوش دهد ویا درتماس شود حرام قرار داده شده است زیرا از همچو اعمال بیهوده فتنه برمی خیزد. این نظر علماء احناف میباشد.

درمجلس ساز وآواز مردها وزنان همه افراد بی بند و بار و فساق و فجار شرکت می ورزند و این مجلس مرکب هم از همچو عناصر میباشد. از اشتراك و آماده سمع در زمینه خود داری شود.

HAMBASTAGI.ORG

«د افغانستان د مسلمانو ښځو غږ» د ځناوروطالبانو په څیر، د کور څخه دښځو راوتل، عطر وهل، سینډلو اغوستل، په لوړ غږ خبرې کول، د خاوند د اجازې پرته سینګار کول او... یې منع کړي دي:

په همدغه ګڼه کې موسیقي او نڅا هم «د روح خرابول» ګڼل شوي او حرام اعلان شوي دي:

«ساز او سندرې او موسیقې چې د هغې په وسیله د انسان روح او روان خرابیږي او نڅا هم د اخلاقو ضد او تخریبونکو تفریحاتو څخه ده چې د ټولنې او هرکس لپاره بې شمیره زیانونه له ځانه سره لري او د اسلامي تعلیماتو سره د تضاد په بنسټ حرام دي.»

د «نساء»، خپرونه د «افغانستان اسلامي ښځو تنظیم» په حزب اسلامي پورې تړلې وه چې د (۱۳۷۰ کال د وږې او تلې) په ۱۳مه او ۱۴مه پرلپسې

ګڼه کې یې «د ښځو سیاسي حقوق» بیان کړي چې په هغې کې غیر د ښځو سره د تاوتریخوالې او د کور په څلور دیوالې کې د ټولنې نیم نفوس محاصره کولو پرته بل څه نه شو موندلې:


جمعیت اسلامی افغانستان
ندای زنان مسلمان افغانستان
نشریه ماهانه مدرسه عالی ام سلمه رضی الله عنها

ستر وحجاب است که مانع نفوذ
وسوسه های شیطانی می گردد و جامعه را
از لوث بداخلاقی و انحطاط اخلاقی
نگهمیدارد و دروازه های زنا وبدکاری را
برای همیشه مسدود می سازد وحجاب
کوری چشم شیطان است.

سرود وغنا وموسیقی که تربعه
آن روح وروان آدمی تخریب میشود
ورقص نیز از جمله تفریحات تخریبی وضد
اخلاقی هستند که برای فرد وجامعه اضرار
بی شماری را دربی دارند وبنا بر تضاد با
تعلیمات اسلامی حرام هستند.

وهم چنان از اجزا ولوازم حجاب یه
ناز ونخره را نرفتن ونرم ونازک سخن نه
گفتن زنان است واگر زنان مرتکب این
اعمال شوند دروازه های فساد بروی
اجتماع باز می شود.

«د ښځو لپاره د نوماندۍ حق او یا په اسلامي شورا کې د ښځو غړیتوب حق په دې مفهوم نه دی چې ګواکې ښځې هم د سړو په شان د دولت ریاست لپاره د نوماندۍ حق لري ځکه چې د دولت ریاست لپاره د ښځې نوماندیدل د شرعي نصوصو پر بنسټ حرام او منع شمیرل شوي دي.»

«د عورت ستر ښځو لپاره معلوم شوی. د بیلګه په توګه د جاهل په څیر په ناز او نخرو د خپل کور څخه بهر ته نه شي وتلې، کله چې د سړو سره مخامخ کیږي باید خپلې سترګې ښکته کړي...»

«ښځه باید سیرت او اسلامي مظهر ولري او په اسلامي واجباتو باندې سمباله او د هغې پیروه وسي د پاک نفس درلودونکې وي او د پردیو سړو سره د خبرو کولو څخه باید پرهیز وکړي او شرعي حجاب په بشپړه توګه پلې کړي.»

د دغو اخوانیانو ارتجاعي فکر ددې لامل کیږي چې د ښارمیشتو په وړاندې هم لیکنې وکړي:

«... له کلیو څخه په ښارونو کې سینماګانې او د فحاشا نور وسایل ډیر دي او په کوڅو او ښارونو کې د ښځو تګ راتګ هم جنسي غریزه تحریک کوي.»



جمعیتیان مسعود د ښځو د حقوق مدافعانو په توګه تبلیغ کوی، خو د «احمدشاه مسعود، د صدیقه مسعود په روایت» کتاب لیکونکې، د هغه د ښځې له خولې لیکی چې هغه حتا د خپلو ورونو ته اجازه ورنکړه چې د هغې د ښځې مخ ووینی. نن ورځ هم احمد شاه مسعود پورته پورته کوی، خو پنځه لورګانی یی داسی د کور په ګوټ کې پټې کړی دی چې لمر او سپوږمۍ یی مخ نه دی لیدلې!

د «نساء» د جریدې په پرلپسی ۱۵مه او ۱۶مه ګڼه کې د (۱۳۷۰ کال د لړم او لیندۍ په میاشت) د فاطمې «عبدالله مور»(!!) «د افغانستان اسلامی ښځو تنظیم» رئیسې وینا راغلی چې د سر څخه تر پایه پوری د ښځو سره ضدیت او بویناکه ده:

«په ښځه کی د مور د دندی تقاضا پر بنسټ عواطف او احساسات وده کوی او په همغه کچه په سړی کې فکر او سوچ پرمختګ پیدا کوی.»

همدغه د «عبدالله د مور» تخلص په ښه توګه د دغې میرمنې ماهیت بیانوی چې فکر کوی ښځه «ناقص‌العقله» ده نو پر دغه بنسټ «فکر او سوچ» یی سړو ته ځانګړی بللې دی.

د «نساء» پرله پسې ۱۷مه او ۱۸مه ګڼه (۱۳۷۰ کال د مرغومی او سلواغې په میاشت کې) د ایران او پاکستان په خیر هیوادونه څخه چې ښځې پکی د فاشیستی قوانینو لاندی ژوند تیروی، د ښځو د جنت په توګه ستاینه کوی:

«د سعودی په هیوا کې په ټوله سره د ښځو وضعیت ښه ده او جنسی انحراف او بی‌حجابی د نورو هیوادونو په پرتله لږ لیدل کیږی... د ښځو ته تر اوسه د ډریورۍ اجازه نه ده ورکړل شوی.»

«په نیکمرغۍ سره د ایران د شاه د نسکوریدلو او مسلمانانو ته د حکومت لاسته ورتګ وروسته، په ایران کې بیاځلې حجاب رواج شو...او په دغه ترتیب سره د ښځو عزت او درناوی او حیثیت په نوی ډول رامنځ ته شو.»

خو آن تر دی چې په اسلامی پاکستان یی د ښځینه صدراعظم په منلو سره نیوکه کړی ده:

«بینظیر بوټو د خلکو ګوند مشره د بی‌حجابی په ترویج کې په

پاکستان کې ډېره اغیزمنه واقع شوی ده... د هغې رنګه انځورونه د دوکانونو، کورونو او محافلو پر مخ زړول کیږی او یوازی سپک او لوچک سړی د خوند اخیستلو لپاره هغه خپروی او ډېری بداخلاقه ځوانان د هغې انځور پر خپله سینه ټومبې... په لنډه توګه دا چې دغې ښځې د پاکستان د خلکو د انحراف په لاره کې او په ځانګړی توګه د ښځو د انحراف په لاره کې شیطانې حیثیت یی ځان ته اخیستی دی.»




د «مسلمانی ښځې پیغام» د ګلبدین حزب اسلامی د «تورسرو» ښځو نشریه وه چې د «پیام زن» مجلی د «راوا» خپرندویه د بربنډولو اوبنسټپالې‌ضد او مبارزه په وړاندی یی ډګر ته راودنګل. د ۲۶مې او ۲۷مې پرله پسی ګڼې (۱۳۷۱ د غویی په ۵مه) په سرلیک کې یی د ښځې غوره توب په دوه څیزونو کې رالنډ کړي دی:

«لومړی دا چې کوم نامحرم هغه و نه وینی او دویم دا چې هغه کوم نامحرم و نه وینې.»!!

د دغې خپرونې بنسټ‌ایښودونکې میرمن فاطمه یاسر(چې اصلاً خارجی شتون نه لری)، معرفی شوی، خو د هغې د مطالبو څخه څرګندیږی چې ټوله د اخوانی اوړد ړیرو له خوا لیکل شوی او هغه ټوله د سړی‌واکې د شوونیزم څخه ککړه وه د ښځې دنده د «اولاد د تربیت» او «آشپزی او درځې‌توب» تر حده ټیټه شوی ده په دغه بنسټ په ډېرو ګڼو کې د مولانا مودودی او سید قطب څخه د تعریف او ستاینې تر څنګ، ځینې پاڼې یی هم د درځې‌توب او آشپزی زده‌کړی ته ځانګړی شوی دی:

«مسلمانو ښځو مسئولیت» د «افغانستان د حرکت اسلامی د کابل ولایتی شورا» ښځینه خپرونه چې شیخ آصف محسنی او سیدحسن انوری پوری تړلې ده چې د دغه جنایتکاره باند د ښځوضد او جاهلانه افکار یی

خپرول. د دغې خپروني څوارلسم ګڼه (۱۳۷۰ کال په مرغومي کې) په واک کې لرم چې په یوه مقاله کې «ښځې سرې جوړوي او سرې تاریخ جوړوي»، د ښځې ونډه «د ښه اولادونو» تربیت او د کور کارونو کول پورې محدود شوي ځکه د هغوی د لنډ لید څخه دا سړی دي چې تاریخ جوړوي. د هغوی د منځنیو پېړیو په فکر، ښځې د کور څخه بهر کارونه نشي تر سره کولی او باید د کور په څلوردیوالې کې بندي شي او یوازې د اولادونو ساتنه وکړي. دا د ښځو د سپکاوي وروستی کچه ده. په داسې حال کې چې ښځې د عمل په ډګر کې تل مخکښې او تاریخ جوړونکې او حماسه راوړونکې دي.




نن ورځ که هر څه دغه عناصر ډېری په خبرو کې خپل ځانونه د ښځو پلویان ګڼي، خو د هغوی ماهیت کوچنی بدلون هم نه دی کړی اوس هم د ښځو په وړاندې د جنایت او تاوتریخوالې لاملان دي. د افغانستان په هر ګوټ او څنډه کې پر ښځو ډېری جنسي تیرې او تاوتریخوالې د جنګسالارانو د پلویانو له خوا ترسره کیږي. دوی د څو پرله پسې لسیزې رهبسې د خپلو ماشومانو لارویانو په غوړو کې پورتني چټیات پف کړي دي چې په پایله کې سړي‌واکه او ښځو ضد فرهنګ په داسې ډول د ټولنې په ریښو کې ننوتي دي چې د هغې له منځه وړلو لپاره یوې اوږد مهاله مبارزې ته سخته اړتیا ده، هغه مبارزه چې یوازې عدالت‌غوښتونکې او پرمختللې ځواکونه کولی شي هغه د یو ډېری مهمې دندې په توګه پر مخ یوسي.



لیکونکی: فرزاد

# کله چې اسراییل د ګلبدین اسلامی ګوند مرستې ته ورودانګل



د اسلامی ګوند تاریخ، ملی ضد معاملو او جنایت او جهالت تاریخ دی. خو د دغه ګوند مشرانو تل هڅه کړی ده خپل هر کرغیړن‌توب د دین او مذهب په جامه کې راونغاړی. ګلبدین راکتیار د «ترکی ژورنالیست ښاغلې محمود» سره په مرکه کې چې د هغې بشپړ متن د اسلامی ګوند له خوا په یو جزوه کې د ۱۳۶۶ کال د کب په میاشت کې خپره شوه، د دغې پوښتنې په ځواب کې چې څه ډول مو د وسلو او مهماتو ستونزی حل کړی وویل:

«... په همدغه ډول می بله شپه استخاره وکړه که چیرې موږ وسلواله مبارزه پیل کړو په غرونو کې زموږ دجبهاتو د وسلو او مهماتو ستونزی به څه ډول او د کومی لاری حل شی. شپه مې په خوب کې ولیدل چې یو شمیر وسلەوالو ورنو سره د شنو غرونو په غاړه کې روان یو په داسی حال کې چې ټول ځایونه د میوەلرونکو ونو څخه ډک دی سترګې مې د سنځلې په ونو لګیری چې میوه یی نیمەشنه ده او دځان سره فکر کوم چې په دي ځاې کې زمونږ

د خوراکې توکو ستونزې حل دی او کولاې شو له دغو میوو څخه ډېر مقدار یې زیرمه کړو. زموږ د وسلو ستونزه هم حل شوه ورونه ټول مسلح دی، په همدغه حالت کې له خوب څخه راپاڅیدم.

....

وروسته له دغې په بشپړه توګه ډاډمن وم چې انشاءالله زموږ ټولې ستونزې به مهربانه خدای حل کړی زموږ د مجاهدینو د وسلو ستونزی او مالی ستونزی به په مورچلونو کې حل شي. هماغسې چې مې په خوب کې لیدلې وو په حقیقت کې هم هماغه ډول وشو.»

دغه د اخوانیانو عادت دی چې هر څه یې «مهربانه خدای» پوری تړلې دي تر څو خپل خیانتونه او چوپړي وپوښي. حقیقت دا دی چې امریکا او اسراییل او پاکستان او څو نور هیوادونه وو چې د بنسټپاله باندونه او په ځانګړې توګه اسلامی ګوند مرستو ته راورسیدل او هغوی یې تر غاښونو مسلح، د ډالرو لاندی ډوب او زموږ د ولس په تپې پوښتورګو یې سپاره کړل.



ګلبدین او چارلی ویلسون

پورتنې انځور د اتیاومی میلادی لسیزو له لومړیو څخه دي، چې چارلی ویلسون، د امریکا کانګرس مشهور غړی له ګلبدین سره لیدل کیږي چې د ګلبدین باند ته یې د سلګونو میلیونو ډالرو پیسو او د سی.آی.ای وسلو په سپارلو کې رغنده ونډه درلوده او د اسلامی ترهګرۍ د پلار په نوم یې شهرت

درلـود. خو د هغه په اړوند همدومره ویلی شـو چې ویلسـون د اسـراییل له مهمو ملاتړو څخه وو چې د شوری ضد جګړې په لړ کې د هغه له ماموریتونو څخه یو د صهیونیزم د موخو لپاره کار کول وو.

افغـان بنسـټپالان د «نړیـوال اسـتکبار»، «طاغوتـی ځواکونـو»، «د صهیونیزم او یهودو دسیسـی» او نورو په وړاندی د تبلیغاتو په کچه شعارونه ورکـوی، خـو کله چې د ډالرو او واک خبره رامنځ ته شـی، چمتو دی چې د فاشیستو دولتونو مشرانو سره چې د مسلمانانو وژونکی دی یو ځای کښیني او شـراب وڅښي. اسلامی ګوند تل د «فلسطین له غوښتنو» څخه په ظاهر کـې ملاتړ کوی خو د اسـراییل وینه‌څښـونکې رژیم لومړنـی چټلې‌خوړونکې افغانه ډله وه.

امریکایی لیکونکی، کرسـتوفر بولین په یوه لیکنه کې چې د ۲۰۱۶ کال د می په ۲۹ نیټه د هغه په شـخصی ویبلاک کې خپره شـوه، د چارلی ویلسون په منځګړیتوب د اسـلامی ګوند سـره د اسراییل اړیکو څخه پرده پورته کوی او لیکې چې هغه خپله د ګلبدین سـره لیدنه وکړه او هوکړې ته ورسـیدل چې اسلامی ګوند له اسراییل څخه وسلې ترلاسه کړي او د اسراییل پوځي ښارګرې اداري ایجنټانو سـره په پاکسـتان کې کار وکړی تر څـو د هغه مجاهدینو ته زده‌کـړه ورکـړی. د دغې پټې هوکړې په پایله کې، د ګلبدین ځواکونو له ډلې څخـه لږ تر لږه څلور زره تنو د اسـراییلی کارپوهانو لـه خوا نظامی تمرینات ولیدل چې پکې یو شمیر عربان هم شامل ول چې وروسته د القاعدې شبکې نړیوال خطرناک ترهګر شول.

د کرستوفر د لیکنې برخې ګورو:

«په ۱۹۷۹ کال کې پر افغانسـتان د روسـانو تیری د اسـراییلو نظامـی اسـتخباراتو لپاره یو مناسـبه موقع پـه لاس ورکړه چې د لویدیځ ضد اسلامی ترهګر یی رامنځ ته کړل.

چارلی ویلسون، د تګزاس څخه د کانګرس یو غړی د اسراییل ډیر کلک ملاتړی وو، د یو اسراییلی وسلو دلال په توګه د پاکستان رهبر ضیاءالحق او ګلبدین حکمتیار سره یوی هوکړې ته ورسیده چې د اسراییل وسلې (چې په لبنان کې یی د فلسطین آزادی‌غوښتونکې سـازمان څخه نیولې دي) تر لاسه کړي، د اسـراییلیانو په وسیله د اسـلامی ګوند مجاهیدینو ته نظامی تمرینات ورکړل شی.... له اسـراییل سـره د چارلی ویلسـون اړیکه‌کونکی کس، زیفی ریفا، د

اسراییل استخباراتي سازمان (موساد) د واشنګټن دفتر رییس وو.

په داسې حال کې چې د اسراییل پوځي څارګر ایجنټان د هغه ډلې ته په زده‌کړه کې بوخت وو، چې په کال ۱۹۴۸ کې ګلبدین له اسامه بن لادن سره ډېرې نژدې اړیکې ټینګې کړې وې او په ورته وخت کې یې د سي.آی.ای او آی.اس.آی څخه مرستې تر لاسه کولې.

علي محمد، مصری‌الاصله دوه اړخیز جاسوس چې په سمه توګه یې په عبري ژبه خبرې کولې، د افغان مجاهدینو په پوځي تمریناتو کې یې لاس درلود. اسامه بن لادن، ایمن الظواهري او نور یې وروزل.

په هغو ورځو کې چې اسراییلیانو د ګلبدین اسلامي ګوند ته یې وسلې ورکولې او جنګ‌يالي ورته روزل، یهودي بارک {چې ۱۹۹۹ څخه تر ۲۰۰۱ کالونو په منځ کې د اسراییل لومړی وزیر شو} د اسراییل پوځي څارګر سازمان(آمان) مشر وو.»



چارلي ویلسون د جهادي مشرانو او په ځانګړي توګه د ګلبدین د معنوي پلار په توګه د ځانګړې ځاي څخه برښمند وو ځکه چې د ډالررسونې په برخه کې، د سي.آی.ای سره د اړیکو کس وو.

کرستوفر په ادامه کی د پیتر بیرګین «سپڅلې جګړه» کتاب څخه نقلوی چې «د ډیر پام‌لرونکی اټکل پر بنسټ، د امریکا له مرستو څخه شپږسوه میلیونه ډالر د ګلبدین اسلامي ګوند ته تللي» په داسې حال کې دغه ګوند په

جګړه کې کوم د پام وړ لاس ته راوړنه نه لرله، د ټولو هیوادونو ترهګرو ته یې زده‌کړه ورکوله او د نورو ډلو ډېر شمیر مجاهدین یې وژلي وو.

ا.ز.هلالی، پاکستانی لیکونکې هم په خپل کتاب کې « پاکستان ــ امریکا اړیکې: د شوروی له خوا د افغانستان نیول کیدل» لیکې چې د اختر عبدالرحمن، د آی.اس.آی د وخت رییس د اجازې پر بنسټ، اسراییل پوځي روزونکو اجازه تر لاسه کړه چې پاکستان ته راشي او د بستپاله ګوندونو زرګونو جنګیالو ته او په ځانګړی توګه اسلامی ګوند ته زده‌کړی ورکړی چې له هغې څخه القاعده او نورې ترهګری ډلې منځ ته راغلی.

جورج کرایل د «چارلی ویلسون جګړه: د تاریخ ډیر لوی پټ عملیاتو زبردسته کیسه» (د ۲۰۰۳ کال چاپ په امریکا کې) په کتاب کې د اسراییل سره د اسلامی ګوند اړیکو په اړه خبری کړی او روښنایی ورکوی چې دغه پټه معامله څه ډول د ضیاءالحق اجازې سره پیل شوه.

اسراییل د اتیایمی میلادی لسیزې څخه د سیمی مسلمانو هیوادونو د تجزیه او بحران ته رابنکولو پراخه کړنلاره یې جوړه کړه چې نن ورځ موږ په عراق او سوریه کې د داعش منځ ته راتګ سره د هغې د پرمختګ لیدونکی یو. په هغه لاسوند کې چې په ۱۹۸۲ کال کې د اسراییل شاحاک، یهودی دینی مشر له لوری ژباړه او خپور شو د «کیوونیم» په لاسوند یې شهرت موونده، د تل‌ابیب طرحه شرح ورکړی ده چې د مذهبی او قومی نفاق تخم کرل د هغی اصلی موخه وه. اسراییل عمدتأ د سختدریزو اسلامی ډلو په منځ ته راوړلو او ملاتړ باندی هڅه وکړه خپلې توطئې عملې کړی. د فلسطین د ازادی غوښتونکې سازمان په وړاندی د حماس په منځ ته راوړلو، د اسلامی ګوند او القاعده تجهیز او ځواکمنول او په سیمه کې داعش او نورو ځناورو ډلو سره ننني بی پای مرستې د همدغې نقشی پر بنسټ ترسره شوی دی چې نن ورځ د هغې د خونړیو پایلو ګواهان یو.

دا یواځې اسلامی ګوند نه وو چې د صهیونیستی رژیم لاړی یې ستونی ته ځښدلی، ټولو بنستپالو او چوپړو جریانونو خبری او عمل ژور توپیر لری. آرری بن مناشه، ایرانی‌الاصل اسراییلی د اسراییل د استخبارتو پخوانې غړی د «وینو پیسې» تر سرلیک لاندی په یو کتاب کې د امریکا او اسراییل سره د کرغیړن خمینی رژیم اړیکی یې بربنډی کړی او لیکی دی چې څه ډول خمینی او د جرم شریکانو یې له یوی خوا څخه «نه ختیځ او نه لویدیځ» شعار ورکاوه چې ګواکی په ریښتیا سره د فلسطین د ولس څخه په دفاع «د

قدس ورځ» لمانځي، خو د پردې تر شــا یی د اســراییلی جنایتکاره چاروا‌کو سره ګټورې دوستانه معاملې درلودلې.

نو داسی لیدل کیږی چې دغه «مهربانه خدای» نه دی بلکه «بی دینه» اســراییل او امریــکا ول چــې د ګلبدین ملاتــړ ته یې ورودانــګل او له یو باغی انسان‌وژونکې، نه یې یو لوی رهبر جوړ کړ. جوته نه ده چې دغه ځان‌پلورونکې امیر به، د امریکا سره خپله نوی معامله د کوم آیت او حدیث او استخارې په وسیله وپوښوی.




**دیني بنسټپالی د پوهې دښمنه**

کارتونیست: Amr Okasha



لیکونکی: توفان

# په هیر شوی بامیانو کی یوه ګړی له سموڅوناستو سره




د ۱۳۹۵ کال مرغومي په ۲۰مه، د ژمي په ډیرو سړو ورځو کی د بامیاني سموڅوناستو کورنیو سره لیدنه لرله چی د صلصال له لوی مجسمې څخه په لږ واټن کی ژوند کاوه. که څه هم د بامیانو ټول خلک بیوزله دي خو سموڅيناستي کولای شو د بامیانو د خلکو بیوزلۍ بیلګه وشمیرو.

کله چی د سموڅو ځای ته ورورسیدو، له یوې ځوانې ښځې سره مخ شو چی پر رسۍ یی کالی اچول. له هغې مو وغوښتل چی له مونږ سره مرکه وکړي، وی منله او مونږ یی سموڅې ته وروبللو. د سموڅې په دروازه پلاستیک میخ شوی وو چی د سړې هوا مخه ونیسي. دننه فضا تنګه او تیاره وه او د سموڅې اخره برخه له بلی سموڅې سره نښتې وه. په یوه څنډه کی کښیناستلو او نسیمه، هغه ځوانه ښځه هم زمونږ مخی ته کښیناستله. له هغې مو وغوښتل چی د خپل ژوند په اړه ووای:

«په کورنۍ کی اووه کسه یو. د ژوند لګښت مو معیوب میړه په دیاړۍ پیدا کوي. ۱۲ کاله کیږي چی دلته یو او ورځ مو تیروو.

ځـوک چـې کـور او ځمکـه ونلري، هـره چیرې چـې وی د خلکو ګاونډي دي. د جګړو پر مهال په بهسـودو کې اوسـیدو، میړه می هم په جګړو کې معیوب شو...»




نسیمه: «یواځنۍ غوښتنه می د یو جونګړی لرل دي.»




دننه فضا تنګه او تیاره وه او د سموڅې اخره برخه له بلی سموڅې سره نښتې وه

نسیمې په سموڅه کی د ژوند ستونزو په هلکه ډیرو شیانو ته اشاره وکړه، له هغې ډلی څخه د ښـاک اوبو راوړلو لپاره باید ډیر زیاد واټن ولاړ شـي؛ د ځان وینځلو لپاره مناسـب ځای نلری؛ د ماشومانو له رنځورتیا سره لاس او ګریوان دي؛ ژمی په خورا ستونزو سره تیروي او نورې ستونزې. هغه د ټولو

ستونزو لامل د کور نه لرل ګڼي او یواځنۍ غوښتنه یې د یوې جونګړې لرل دي. په ورته وخت کې د مرستو د ناعدلانه ویش څخه سرټکوي وای:

«څو واري د مرستو لپاره زمونږ نومونه ولیکل، خو هغوی چې په دولت کې خلک پیژني ډیرۍ مرستې په خپل نوم اخلي. څه موده وړاندې د ځمکې نمرې وویشل شوې، څو تنو واسطه‌لرونکو هغه واخیستلې او مونږ ته هیڅ هم راونه رسیدل.»



سموڅې‌ناستي ماشومان کېڼ لوری ته: محمد زمان

د نسیمې له سموڅې څخه چې راووتلو، له یو ماشوم سره مخ شوو چې په سترګو کې سره ټکې لیدل کیده. محمد زمان نومیده. له هغه مو وغوښتل چې مونږ تر خپل کوره بوځي. خوښ شو او په بیړه د سموڅې دروازې ته ورسیده او زمونږ په لوری یې اشاره وکړه. د محمد زمان له مور سره کښیناستلو د ماشوم د سترګو سرو ټکو په اړه مو ترې وپوښتل:

«نه پوهیږم، درې کاله کیږي چې سترګې یې درد کوي، درمل او هرڅه اخلو، خو نه ښه کیږي. ډاکټران وای چې له دوړو او


د محمد زمان مور: «د سموڅې له چت څخه ډیر زیاد دوړې او خاورې رالویږي.»

خاوري او مکروب سره حساسیت لري. د سموڅې له چت څخه ډېرې زیاتې دوړې او خاورې رالویږي، هلته مو بوجۍ ټومبلی ده چې لږ مخنیوی وکړي...»




محمد زمان او خور یې سمیرا




د سموڅې اشه‌داره

یوه شیبه وروسته سموڅه له نورو ماشومانو ډکه شوه، ټول په یو کتار کې کېنیناستل او زمونږ او کمرې لور ته یې په ځیر ځیر کتل. کمره مې هغوی ته ورکړه چې د یو بل انځور واخلي، د راپور پاتې برخه مې هغوی ته پرېښوده! په داسې شور او مینه یې په وار وار د یو بل انځور اخیسته چې نشم

کولای لـه کمرې او ټکنالوژۍ سـره د هغوی لیوالتیا پـه دې راپور کې بیان کړم، هک ـ پک پای وم. له ځانه سره مې وویل که د لیک او لوست امکانات دغو ماشـومانو ته برابر وای، یوائې هغه خلک چې افغانسـتان د پرمختګ او هوساینې لوړو څوکو ته رسولی شي، د هیواد دغه بې‌برخې ماشومان دي.

کله مو چې د سموڅوناسـتو ځای پریښـوده، ماشـومانو تـر یوځایه مونږ بدرګه کړو. یوې ښـځې له سـموڅې سـره را بیرون کړ او مونږ یې غرمنۍ ته وروبللو، خو څنګه مو کولای شـو د هماغـې ورځې یوه مړې ډوډۍ یې مونږ وخـورو، له همدې کبله د وخت نشـتوالی مو پلمـه کړ او له دردہ ډک زړه له هاغه ځای ولاړو.




انځورونه چې د سموڅي ناستي ماشومانو له یو بل څخه واخیستل.

د بامیانـو ډیـرې خلک دغسـې ژوند لري. د بیوزلۍ لمن داسـې خپره ده چې د سموڅوناسـتو او نورو خلکو ترمنځ ډیر لږ توپیر دی. ۴لسـیزی جګړه او لوټ او په ځانګړی توګه د وحدت ګوند دنننۍ شخړې او د ځناورو طالبانو انسـان‌وژنې د بامیانو د اوسـیدونکو د بیوزلۍ او در په درۍ اصلی لامل دي. هغـه څه چې د نړیوالو مرسـتو پـه نامه بامیانو ته رسـیږي، د قوم او مذهب ټیکه‌دارانـو لـه لوری لوټ او تالان کیږي. تنظیمی مشـران د پخوا په څیر د خلک وینو په زبیښلو بوخت دي او د پیسو او زور په واسطه پر خلکو له هیڅ دول ظلم څخه ډډه نه کوي. هغه څه چې ددغه ولایت د «پرمختګ بیلګې» پـه نامه یادیږي د «غلغلې هوټل» دی چـې د خلیلی کورنۍ پوری تړاو لری! خو ډیری خلک دغه لوټمار او درغلګر واکمنان ښـه پیژني. په یاد می ده کله

می چی د بامیانو له یو بیوزله اوسیدونکي سره په دې اړه خبرې کولی، په سیمیزه خوږه ژبه یی راته وویل: «زمونږ راتلونکی، زمونږ اولادونه دي. خپل اولادونه باید داسی وروزو چی د خلیلی او محقق او جمهور رییس په خوله کی په سوک سره پیازه میده کړي!»








پښتو ۹مه ګڼه، پسرلی ۱۳۹۶




لیکونکی: نوید نابدل

# جهادي مشرانو په مکه او مدينه کې لوړه وکړه خو په يوه شپه کې يې مات کړه




د جنايتکاره تنظيمونو مشران، د سولې تړون کولو او په يوه شيبه کې د هغې ماتولو لپاره اوږده تاريخچه لري. په کابل کې د ډلو تر منځ د خونړيو جګړو په لړ کې، ګلبدين، رباني، مسعود او نورو ثو ځلې د خپلو پاکستاني، ايراني او عربستاني واکدارانو په منځګړيتوب د سولې تړون لاسليک کړ، خو د لاسليکونو رنګ يې لا وچ شوی نه وه چې د يوبل په ستونیځيرلو يې لاس پورې کړ.

خو کيدای شي چې نني نسل په کعبه کې د هغوی په قرآن باندې لوړې او ژمنې کولو څخه بې‌خبره اوسي، په همدغه لامل مې وغوښتل چې دغه د دين سوداګرو د بښه پيژندلو لپاره، يو شمير انځورونه او لاسوندونه تاسو ته وړاندې کړم او څرګنده کړم چې دوی په سپيڅلو ځايونو کې په خپل هيڅ سوګند او قسم باندې چې خپل ځانونه د هغه ځايونو مبلغان ګڼي، ټينګ نه دي.

د اسلام آباد د سولې تړون، د جهادي تنظيمونو د ډيرو مشهورو تړونو څخه دی چې د ۱۳۷۱ کال د کب په ۱۶ نيټه (۱۹۹۳ کال د مارچ په ۷)

پاکستانی، ایرانی او عربستانی چارواکو خپل چوپړان په میز کینول او دهغې لاسلیک ته یې اړ باستل. د هغې په لړکې ۹ تنظیمونو ژمنه وکړه چې د کابل سپېتانه جګړو ته د پای ټکې ږدی او په هیواد کې به د سولې لپاره کار وکړی.




د دغه تړون لاسلیک وروسته، د عربستان د وخت پادشاه ملک فهد په بلنې، ربانی، گلبدین، مجددی، گیلانی، محمدی او د سیاف حزب او د وحدت حزب استازی د نوازشریف او یو شمیر پاکستانی چارواکو سره د عربستان په لور روان شول. په داسې حال کې چې د روژې میاشت وه، دوی په مدینه کې په نبوی مسجد کې لمونځ اداء کړ، وروسته د عمرې اداء کولو او د خدای په مخکې ژمنې کول لپاره چې د هغوی په وینا په افغانستان کې د سولې بیا ټینګښت لپاره به ژمن پاتې شی د کعبې کور ته ولاړل هلته ملک فهد او نوازشریف د ضمانت کونکو په توګه د ۱۹۹۳ کال د مارچ په ۱۲ نیټه د هغوی د تړون په لاسوند باندی لاسلیک وکړ. په دغه لړکې نوازشریف او ملک فهد څرګنده کړه: «د تړون لاسلیکول د مسلمانانو په ډیر سپیڅلې ځای کې په دی معنا ده چې سرغړونکې به یې خدای تعالی هیڅکله نه بخښی.»

د هغې په سهار پاکستانی او نړیوالو رسنیو په افغانستان کې د احتمالی سولې بیا راتګ ښخه خبری کولی، خو دا یو هوای خیال وو. د خدای په کور کې د جهادی مشرانو د قرآن خوړلو ښخه یوازی شل ورځې تیری شوی وی چې د هغوی توغندیو توغولو او جګړو او ویجاړۍ خبرونه د نړۍ د ورځپاڼو سرلیک شو.

لاندی یوازی په هغو ورځو کې د څو پاکستانی ورځپاڼو رابیل شوی برخې چې راټولې کړی می دی لکه په لاندی عنوانو سره «په کابل کې ۳۰ تنه د توغندی لګیدلو له امله ووژل شول»، «د کابل په نویو جګړو کې درنده

مرګ‌ژوبله»، «توغندي د ولسمشري ماڼۍ تر هدف لاندې ونيوله»، «۲۰۰ تنه د افغانانو په خپل‌منځۍ جګړه کې ووژل شول»، «د افغانستان اوربند مات شو»، «توغنديز بريد په کابل کې د ۱۰۱ تنو د وژلو لامل شو» او ....




په مکه او مدينه‌کې د رهبرانو د قرآن خوړلو يوازې شل ورځې وروسته، د خپلې ژمنې ماتول او د توغنديو توغولو پيل او په‌کابل‌کې د وژنو خبرونه د نړۍ د ورځپاڼو سرليک شو.

تنظمي جګړې او ويجاړې او خيټې ښيرول په افغانستان داسې پورته ولاړې چې د خپلو بهرنيو خاوندانو غوسه يې هم چې خپلې کړنلارې يې په افغانستان کې د منځ تللې ليدلې وې، روپاروله. ملک فهد ۱۹۹۴ کال د جنورې په نيمايي کې جهادي مشرانو ته په خپل پيغام کې وويل «د خدای څخه وويريږئ او خپل جنګ ته د پای ټکی کيږدئ». د نوموړي پيغام په ادامه کې چې پاکستاني ورځپاڼو د هغې يوه برخه خپره کړې لولو:

> «دغه غمیز وضعیت ډیر د خواشینۍ وړ او ناهیلې کونکې دی ځکه چې دا د هغې څخه وروسته واقع کيږي چې افغان مشرانو د اسلام آباد اوربند تړون یې لاسلیک کړ او وروسته په رسمي تشریفاتو سره د روژې مبارکې میاشتې په لړ کې د حرمین شریفین په څلور دیوالی، د ځمکې پر مخ تر ټولو سپیڅلې ځای کې، تړون یې بیا نوی کړ.»

مشرانو چې هر يو يې خپل ځان ته د اسلام ټيکه‌دار وای په مخالفانو باندې په آسانې سره د بې ديني او کفر ټاپه وهي، په مکه او مدينه کې په

خپله لوړه باندې په ځای نه پاتې کیږي. له همدې کبله دا به بې‌عقلي وي که چیرې د لاسپوڅې دولت سره د ګلبدین راکټیار اوسنې تړون جدي ونیسو او هیله ولرو چې حزب اسلامي او مریض مشر یې خپل فاشیستي او جنایتکاره خوی او بوی پرېښی دی او په یو ځل سره د سولې په کوتره باندې بدل شوي.

د کرغېړنو ډلو څخه په سـولې باندې ټینـګ پاتې کیدلو تمه چې یوازې د ټوپـک او ویرې او وژنو په ملاتـړ یې خپل ځانونه په خلکو باندې زغملې، بې ځایه او خپل ځان غولول دي. هغه څه چې د سـولې پروسـې تر نامه لاندې پـر مخ وړل کیږي، د امریکا او د هغوی د چوپړانو یوه شـیطاني لوبه ده چې د خلکو په غولولو سـره، ترټولو ځناور او خونړیو عناصرو باندې عطر او پوډر وهي چې یو ځل یې بیا د خلکو په برخلیک باندې واکمن کړي ځکه چې دغه ډلـو د خپـل خیانتونه او کرغېړنتوب په ټول تاریخ کې دا ثابته کړې ده چې د ډالرو او چوکۍ په بدل کې، حاضر دي د نیواک ډُهل ته ونڅیږي.


# ‘Stop war in Afghanistan, fear Allah’

ISLAMABAD (APP) — King Fahd of Saudi Arabia and President Farooq Ahmed Khan Leghari on Monday called upon the Afghan leaders to put an immediate end to the fighting and implement the Islamabad and Makkah accords.

In a communique issued simultaneously from Riyadh and here, the two heads of states expressed sorrow and anxiety at the painful developments in Afghanistan.

The events, communique stated, "stemming from the resort to force and violence on part of the ... Afghan parties ...

"This tragic situation is all the more distressing and disappointing since it has occurred after the Afghan leaders made firm pledges and signed the Islamabad agreement which they solemnly reaffirmed at Makkah during the blessed month of Ramazan, in the precinct of Harm Sharif, the most sacred place of the world", it said.

The Frontier Post
Jan.18, 1994

HAMBASTAGI.ORG




# خونړی کابل

کارتونیست: مانا نیستانی

# «د افغانستان د همبستګۍ ګوند» خپروني تاسو کولي شی په کابل او ولایاتونو کې له لاندي پتو څخه تر لاسته کړئ:

## کابل

**نمایندگی انجمن نویسندگان افغانستان**
جوار پارک تیمور شاهی

**شرکت کتاب شاه محمد**
چهارراهی صدارت

**کتاب فروشی مقدم**
مارکیت جوی شیر کابل

**کتابخانه وحدت**
نیاز بیک، دکان حاجی

**کتاب فروشی معلم محمد وحید**
د افغانستان آریانا مارکیت، دکان اول

**کتاب فروشی رفیع الله**
پل باغ عمومی، لب سرک، زیر پشتنی بانک

## هرات

**کتاب و قرطاسیه فروشی عبدالجبار "یعقوبی"**
جکان غوند یازده،
مقابل مکتب متوسطه خلیل الله خلیلی

## بلخ

**کتاب فروشی عبدالغفور عرفانی**
**کتاب فروشی عبدالرازق انصاری**
مزار شریف، چهارراهی بیهقی،
پوسته خانه شهری

**کتاب فروشی فیروز**
مقابل نشنل بانک پاکستان

## تخار

**فوتوکاپی آمو، نجیب الله رحیمی**
تالقان، بندر بدخشان، مقابل فوائد عامه،
دکان نمبر ۱۰

## کندز

**قرطاسیه فروشی محمد هارون**
جاده ولایت

## بامیان

**کتاب‌فروشی محمد ظاهر حیدری،**
جوار سبزی فروشی، شهر بامیان

## غزنی

**کتاب و قرطاسیه فروشی توحید**
شهرک البیرونی، جاده خاتم الانبیا

**کتاب و قرطاسیه فروشی احمدی**
پلان سوم، کوچه زیارت خواجه علی

**کتاب فروشی فرهنگ ۱**
جوار کتابخانه عامه

**کتاب فروشی فرهنگ ۲**
سرک تانک تیل کهنه، رسته نجارها

## ننگرهار

**کتابفروشی سیار**
ولسوالی خیوه

**مازیګر کتابپلورځی**
اسحاقزی مارکېټ، جلال‌آباد

## کنر

**کتابفروشی احمد ظاهر**
چغانسرای، سرک قومندانی

## فراه

**کتابفروشی عزیزی**
واقع ناحیه سوم،
مقابل لیسه نفیسه توفیق میر زایی

## بغلان

**کتاب و قرطاسیه فروشی فردوسی**
شهر پلخمری، مقابل غضنفر بانک

## بدخشان

**کتاب و قرطاسیه فروشی ضیایی**
فیض آباد، دشت شهدا، مقابل تربیه معلم

## نورستان

**عکاسخانه، فوتوکاپی و قرطاسیه فروشی میا**
روبروی مسجد انصاف مارکیت، پارون - نورستان

# دردیدلو هیوادوالو،

که د خپلواک، آزاد او دموکرات افغانستان غوښتونکی یاست؛ که د افغانستان د سرلوړی او بې‌وزلو خلکو د هوسایښې هیله په زړه کې لرۍ؛ که غواړۍ د نیواکګرو او د هغوی چوپړانو د جنایتونو او خیانتونو پر وړاندی خپله دنده ترسره کړی، نو د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» سره یوځای شی او د خپل ګوند خپرونې په پراخه توګه د خلکو په منځ کې خپرې کړی.

پته: پست بکس شمیره ۲۴۰، مرکزی پسته‌خونه
کابل ـ افغانستان

ګرځنده: 0093-700-231590
بریښنالیک: info@hambastagi.org
ویب‌پاڼه: www.hambastagi.org
فیسبوک: facebook.com/Afghanistan.Solidarity.Party
facebook.com/hambastagi
تویتر: twitter.com/solidarity22
یوټیوب: youtube.com/AfghanSolidarity

د «افغانستان د همبستګۍ ګوند» د خپلو کړنو مخکی وړلو لپاره د غړو حق‌العضویت او د پلویانو مرستو ته اړتیا لری. په خپلو نقدی مرستو له مونږ سره همغږي شی:

Azizi Bank
Koti-e-Sangi Branch, Kabul, Afghanistan
Name: Sayed Mahmood
Account No: 001903204644917

# Hambastagi

(Solidarity)

A Publication of the Solidarity Party of Afghanistan

9

PASHTO





په هیر شوی بامیانو کی یوه ګړۍ له سموڅوناستو سره | ۴۵ مخ

